# ځېرې

(د نړۍ د نوموتو شخصیتونو ژوندلیکونه، لاسته راوړنې ویناوې او هڅې.)

Ketabton.com

ریاض مقامزی

کال: ۱۴۰۱ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ډالی**

د **کتابتون.کام** (**Ketabton.com**) په نوم،

چې د افغانانو د پوهې په لوړولو او مثبت فکري بدلون کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي!

رياض الله مقامزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیل خبرې

***((بس خو روان ومه او لاره جوړېده راپسې ...))***

دا کتابګوټی زما د هغو لیکنو، ټولونو او ژباړو ټولګه ده، چې پر کتابتون ویبپاڼه د (څېړې) تر عنوان لاندې خپرې شوې دي. پدې کتاب کې د نړۍ د لسګونو نوموتو شخصیتونو ژوندلیکونه خوندي دي. باید ووایم، چې دا لیکنې ما هېڅکله پدې موخه نه وې کړې، چې ګوندې یوه ورځ دې سره راټولې کړم او د کتاب بڼه ورکړم؛ خو کله چې ددې لیکنو شمېره ډېر شو، یو فکر را پیدا شو او ومې ویل که کتابي بڼه خپله کړي شاید ډېر خلک ترې مستفید شي؛ مګر له دې فکر سره ـ سره بیا هم کیبورډ ته ګوتې نه ورتللې.

همدا کرل ـ رېبل مې کول چې یوه ورځ مشر ملګري او د کتابتون.کام بنسټګر شمشاد زهیر هم دا وړاندیز وکړ. له ځان سره مې وویل چې اوس خو یې باید ترسره کړم. بالاخره همداسې وشول او ټولې لیکنې مې سره یو ځای کړې، چې شمېر یې لسګونو ته ورسېد. البته د ځینو نورو شخصیتونو ژوندلیکونه هم وو؛ خو د بېلابېلو ملاحظاتو له کبله مې لرې کړل او پدې ټولګه کې یې ځای و نه موند.

هېره دې نه وي، چې د مشهورو ادبي شخصیتونو د ژوند، آثارو او نورو معلوماتو د کره والي لپاره مې تر ډېره د ښاغلي استاد ((مصطفی صفا)) له ((نړېوال ادبیات)) اثر څخه استفاده کړې ده، ترڅو د غلطیو مخنیوی وشي. همدارنګه بېلابېلې اخیستنې مې هم ترې کړې دي ؛ نو حق یې کېږي چې یادونه او مننه ترې وشي.

لیکنې مې د نوعیت او د شخصیتونو د مسلک له مخې نه دي ډلبندي کړې؛ بس د ((هر چه پیش آید خوش آید)) خبره وه. کله چې مې دویم ځلې دا لیکنې، ټولونې او ژباړې ولوستې ګڼې تېروتنې مې پکې پیدا او اصلاح کړې؛ خو ډاډه یم، چې تر اوسه به هم ځینې نیمګړتیاوې موجودې وي. څکه چې تر ما وروسته یې تاسو لولئ. بل هېڅا نه دی پروفریډ کړی؛ نو که له نیمګړتیاوو /تېروتنو سره مخ کېږئ او یا کوم نظر، وړاندیز او نیوکه لرئ د مهرباني له مخې په (r.muqamzai@gmail.com) برېښنالیک یې راسره شریک کړئ.

په درنښت

ریاض الله مقامزی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

سرلیک پاڼه


د لاتینې امریکا نوموتی شاعر؛ پابلو نرودا ........ ۱
نامتو هسپانوي لیکوال؛ سروانتس ........ ۲
د برنارډ شاو پېژندنه او غوره ویناوې ........ ۳
سقراط لا ډېر وپېژنئ! ........ ۴
هیپاتیا؛ ریاضي پوهه او فیلسوفه ........ ۶
د ویکتور هوگو ژوند او فن ........ ۷
د شکسپیر ژوند او فن ........ ۸
نوم ورکې شاعره، چې له مړینې وروسته وپېژندل شوه ........ ۱۰
د پوشکین ژوند ته یوه لنډه کتنه ........ ۱۱
هټلر ولې یهودان وژل؟ ........ ۱۲
اخماتووا؛ شاعره، ژباړنه او کره کتونکې! . ........ ۱۳
سوفوکلیس لا ډېر وپېژنئ! ........ ۱۴
پاسترناک؛ نوبل گټونکی لیکوال! . ........ ۱۵
نابغه لیکوال "تورگینیف" وپېژنئ! ........ ۱۵
پاول ایلوار ........ ۱۷
ښکلا پېژندونکی اوسکار وایلډ وپېژنئ ........ ۱۸
د گاندي لنډ ژوندلیک! ........ ۱۹
چیگوارا؛ له طبابت نه تر انقلابه! ........ ۲۱
محمد علي کلي څوک و؟ ........ ۲۴
فیډل کاسترو؛ د کیوبا انقلابي څېره ........ ۲۶
هاینریش هاینه وپېژنئ! ........ ۲۸
د البرټ انشټاین لنډ ژوندلیک ........ ۲۹
ویلیام بلیک وپېژنئ! ........ ۳۱
د محمد اشرف غني لنډ ژوندلیک . ........ ۳۲
د تولستوی لنډ ژوندلیک ........ ۳۴
د منټو لنډ ژوندلیک ........ ۳۵
د چاپلین لنډ ژوند لیک ........ ۳۷
د بالزاک لنډ ژوندلیک ........ ۴۰
گابریل گارسیا څوک دی؟ . ........ ۴۱
د کافکا لنډ ژوندلیک ........ ۴۲
قمارباز لیکوال؛ داستایوفسکي ........ ۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لورکا لنډ ژوندلیک ........................................ ۴۵
د ګورکي لنډ ژوندلیک ........................................ ۴۷
د غازي امان الله خان کارنامې ........................................ ۴۸
د امریکا ولسمشر څنګه ووژل شو؟ ........................................ ۵۱
د ستاین بیک لنډ ژوندلیک ........................................ ۵۳
د بنجامین لنډ ژوندلیک ........................................ ۵۴
لانګ فیلو وپېژنئ ........................................ ۵۵
د ګویته لنډ ژوندلیک ........................................ ۵۶
د برودسکي لنډ ژوندلیک ........................................ ۵۸
دالیوت لنډ ژوندلیک ........................................ ۵۹
د بېرتولت لنډ ژوندلیک ........................................ ۶۰
د اناتول فرانس لنډ ژوندلیک ........................................ ۶۱
د او.هینري لنډ ژوندلیک ........................................ ۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لاتينې امريکا نوموتی شاعر؛ پابلو نرودا

په لاتينه امريکا کې ډېر هېوادونه شاملېږي. په دې کې د "برازيل، پرتګال، چيلي، کلمبيا، ارجنټاين او ..." نومونه د يادولو وړ دي. دې هېوادونو ته ځکه "لاتيني" وايي، چې پخوا د هسپانيې او پرتګال مستعمرات وو.

پابلو نرودا "Pablo Neruda" په "۱۹۰۴م" کال د چيلي هېواد په پارال ښار کې وزېږېد. مور يې د ښوونځي ښوونکې وه او پلار يې د اوسپنې د لارې يو مامور و. د نوموړي مور له زېږېدنې دوه مياشتې وروسته مړه شوه. پلار يې ډېر ژر دويم واده وکړ. دې نوې مېرمنې يې د ماشوم پابلو سمه پالنه هم وکړه، چې نوموړي خپله فرښته بلله.

نرودا لا کوچنی و، چې کورنۍ يې يوې ښېرازې سيمې "تموکو" ته کډه وکړه. ددې ځای اغېز د پابلو په شاعرۍ کې څرګند دی. پابلو خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د انسانپوهنې په برخه کې ترسره کړې. دی ۱۵ کلن و، چې د ادبياتو مطالعه يې پيل کړه او همهاله يې يوه ـ نيمه ليکنه هم کوله. په ۱۶ کلنۍ کې يې يوه مقاله په ورځپاڼه کې چاپ شوه. وروسته د چيلي پايتخت "سانتياګو" ته راغی او هلته يې فرانسوي ژبه او ادبيات ولوستل.

په "۱۹۲۲" کې د چيلي مشهورې شاعرې "ګابريلا ميسترال" په غوښتنه د روسي ادبياتو مطالعه پيل کړه. دا هغه وخت دی، چې د نوموړي دوه شعرونه هم چاپ شوي دي.

پابلو به سياست او ادب يو ځای پالل. په "۱۹۶۵م" کال کې آکسفورډ پوهنتون نوموړي ته افتخاري دوکتورا ورکړه. همدارنګه په "۱۹۷۱م" کې د نوبل جايزه وګټله. د بالاخره د چيلي هېواد دا تر ټولو لوی او مشهور شاعر په "۱۹۷۳م" کال کې د سرطان ناروغۍ له کبله ومړ.

د شعر يوه برخه کې وايي:

په کراري سره دې مرګ پيلېږي

که سفر و نه کړې

که کتاب و نه لولې

که د ژوند آواز نه غوږ و نه نيسې

که د خپل ځان درناوی و نه کړې

په کراري سره دې مرګ پيلېږي

کله چې په ځان کې د ځان باور ووژنې

کله چې نور و نه منې چې مرستندوی دې شي

په کراري سره دې مرګ پيلېږي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نامتو هسپانوي ليکوال؛ سروانتس

هسپانيه د اروپا په لويه وچه کې پرته سيمه ده. دا هېواد له ۵۸ غټو او وړو ټاپوگانو څخه جوړ شوی دی. پلازمينه يې "مادريد" نومېږي.
هسپانوي يوه نړېواله ژبه ده، چې نړدې د "۲۲" هېوادونو رسمي ژبه بلل کېږي نو ځکه خو د هسپانيې ادبيات په هسپانوي ژبه کښل شوي دي. ددې هېواد "۱۱" تنو ليکوالو د نوبل جايزې گټلې دي. تاسو به په دې ليکنه کې د همدې هېواد يو نامتو ليکوال وپېژنئ.

**ميگوئيل دې سروانتس "Megueg de cervants"**

د هسپانيې دغه نامتو ليکوال په "۱۵۴۷" م کال کې د هسپانيې هېواد په "آلکالا" ښار کې وزېږېد. پلار يې گرځنده روغتياپال و، نو تل به له يوه ښاره بل ته په سفر کې و. دا چې سروانتس ډېر ځيرک و نو ځکه خو يې له خپل پلار سره په ډېرو سفرونو کې د هغه ملگرتيا کوله. سروانتس د خپلو والدينو څلورم اولاد و. د زده کړو په اړه يې څېړونکو کره معلومات نه دي ترلاسه کړي خو اکثريت يې په دې باور دي، چې نوموړي ايټالوي ادبيات په ښه توگه لوستي وو. د نوموړي د ځوانۍ کلونه له ډېرو غمجنو پېښو څخه ډک دي. په عسکرۍ کې د جگړې پر مهال په چپ لاس ولگېد او شل شو. په بله جگړه کې اسير شو او الجزاير ته يوړل شو. همدارنگه گڼې نورې پېښې دده د ځوانۍ خاطرې دي. د نوموړي د ژوند دغه بدې پېښې د هغه پر ليکوالۍ ژور اغېز وکړ. لومړنی رومان يې "گالاتيا" نومېده. تر ټولومشهور اثر يې "دون کشيوت" نومېږي له ده وروسته نوموړي تقريبا شل ډرامې وليکلې مگر اوس يې يوازې ۲ موږ ته راپاتې دي.

د هسپانيې هېواد دغه ستر ليکوال د "۱۶۱۶ م" کال د اپرېل په درېويشتمه نېټه د ۶۸ کلونو په عمر ومړ.

**د سروانتس څو لنډې ويناوې**

- که چېرې پت او عزت له تا واخلم، د روح اخيستل دې اسانه کېږي؛ ځکه بې پته انسان تر مړه بدتر وي.
- پسرلی ښکلی دی، خو د انسان د زړه او ذهن پسرلی تر هغه زيات ښکلی دی.
- رښتيا او صداقت تر ټولو غوره سياست دی.
- که څه هم لوی کارونه مې ترسره کړل، خو په هغو پسې مې خپل ځان بايلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د برنارډ شاو پېژندنه او غوره ويناوې

ددې ستر آيرلينډي ليکوال بشپړ نوم جورج برنارډ شاو "Georg Bernard Shaw" دى. د انګليسي ادبياتو په ډرامه ليکونکو کې د لومړي قطار له کسانو څخه شمېرل کېږي. نوموړی په "۱۸۵۶م" کال د آيرلينډ په مرکز دوبلين کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. دا چې کورنۍ يې ډېره غريبه او ناچاره وه نو تل به يې د مور او پلار ترمنځ شخړه وه، نو ځکه خو د برنارد شاو ماشومتوب له خواشينيو خلاص نه و. د همدې اقتصادي ستونزو له کبله يې ايله تر ۱۴ کلنۍ زده کړې وکړې او په ۱۵ کلنۍ کې يې دنده واخيسته تر څو کورنۍ ته يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کړي. نوموړي د ځمکو د خرڅلاو له يوه شرکت سره نږدې څلور کاله دنده وکړه او د خپلې کورنۍ لګښتونه يې پوره کول.

کله چې دی د لندن له کاري فرصتونو خبر شو نو له خپلې مور سره هلته لاړ، تر څو ډېرې پيسې وګټي. په لندن کې يې د کار کولو ترڅنګ بېلابېلې ورځپاڼې او همدارنګه سياسي او ادبي کتابونه ولوستل. نوموړي په لندن کې د سوسياليستي انجمن غړيتوب هم واخيست.
له "۱۸۸۵م" کال وروسته يې ځينې ډرامې وليکلې او ځانګړې مينه وال يې پيدا کړل. په ليکنو کې يې طنزي اړخ زيات پياوړی و. ځينې ډرامې يې زياتې مشهورې شوې، لکه: (سنټ جان، ډاکټر په دوه لارو کې، زړه ماتوونکی کور، د جان بول بله جزيره او ...) برنارد شاو ته په ۱۹۲۵ کال کې د نوبل جايزه ورکړل شوه. په دې وخت کې د نوموړي عمر ۶۹ کاله وو نو ځکه دی يو له هغو کسانو څخه شمېرل کېږي، چې په لوړ عمر کې يې دغه ستره جايزه ترلاسه کړه.

برنارډ يو هوښيار او ځيرک انسان و. دی به ډېر ټوکمار تو حاصر ځوابه و. د نوموړي په باب يوه مشهوره کيسه داسې ده، چې برنارډ شاو ته کومې فلمي لوبغاړې د واده وړانديز وکړ. ده ورته وويل: ته په کوم دليل ماسره واده کوې؟

هغې وويل: زه ډېره ښکلې يم او ته ډېر هوښيار نو که چېرې زموږ اولاد پيدا شي، عقل کې به تاته ورته شي او ښکلا کې ماته نو ښه نسل به وي.

برنارد شاو وويل: دا غوښتنه دې نه منم. هسې نا، عقل کې تاته وشي او څېره کې ماته. بالاخره دغه ستر ليکوال د "۱۹۵۰م" کال د نومبر د مياشتې په دويمه نېټه ومړ.

### د برنارد شاو ځينې ويناوې

- ناسم معلومات، له ناپوهۍ څخه ډېر خطرناک دي.
- ډېر نصيحت مه کوه، ځکه جاهل د چا خبره نه اوري او عاقل ورته اړتيا نه لري.
- تل رښتيا وايه، خو هره رښتيا مه وايه!
- پيسې لوږه ختموي، خو درد او غم نه شي ختمولای.
- ډېر خلک د دعا پر ځای سوال کوي.
- ټول ستر حقيقتونه لومړی د شريعت خلاف معلومېږي.
- څوک چې يو څه کولی شي، کوي يې او څوک چې يې نه شي کولای نيوکې کوي.
- مذهب يو دی، خو تعبيرونه يې په زرګونو.
- ډېر لږ خلک بې وزلي زغمي.
- استعداد يعنې له خپل زور او عقل څخه هممهاله ګټه اخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سقراط لا ډېر وپېژنئ!

پوهېږم چې تاسو به هم په ډېرو ځايونو کې د "سقراط" نوم اورېدلی وي. زموږ او ستاسو په ټولنه کې چې څوک ډېر هوښيار وي، وايو "فلانی خو ولا سم سقراط دی!". خو آيا تر اوسه پوهېدئ چې سقراط څوک دی؟

موږ هڅه کړې ده، چې تاسو ته په دې ليکنه کې د سقراط په اړه کافي معلومات چمتو کړو. د ليکنې تر پايه به د نوموړي په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

**سقراط څوک و!؟**

سقراط د لرغوني يونان ستر فيلسوف و. نوموړی هغه څوک و، چې له ځانه يې وپوښتل، ددې نړۍ پر سر څه تېرېږي؟ موږ او نور موجودات د څه لپاره پيدا شوي يو؟ همدارنگه دې ته ورته نورې پوښتنې يې هم کولې او هڅه يې دا وه، چې ټولو سوالونو ته منطقي ځوابونه پيدا کړي.

سقراط له ميلاده "۴۶۹" کاله وړاندې د اتن ښار په "ايلوپيک" کوڅه کې دې نړۍ ته سترگې پرانيستلې. ويل کېږي، چې سقراط د خپل ښار تر ټولو بدرنگه هلک و. دی به ډېر ضدي و، سترگې يې د چونگښې په څېر وتلې ښکارېدې او پوزه يې هم ډېره پيته وه؛ د ښوونځي هلکانو به نوموړي ته چونگښه ويلې.

د سقراط پلار يو مجسمه جوړونکی و او مور يې هم د ماشومانو د روزنې او پالنې مسؤليت درلود.

سقراط به ويل: "پوهه يوازې له استادانو څخه نه ترلاسه کېږي بلکې له تجربه لرونکو اشخاصو هم ترلاسه کولای شو." له همدې امله خو نوموړي په "۱۳" کلنۍ کې ښوونځی پرېښی و. سقراط به د علم په هلکه داسې دعا کوله: "ای ربه! ماته دومره پوهه راکړه، چې زه يې وزغملی شم."

د گډ ژوند په هکله يې معلومات دا دي، چې نوموړي دوه ودونه کړي و، البته تاسو بايد پوه اوسئ، چې دويم واده يې د لومړۍ مېرمنې له مړينې وروسته وکړ. له دويمې مېرمنې هېڅ خوښ نه و. هغه ډېره تونده خويه مېرمنه وه. ددې مېرمنې نوم يې "زين تيپي" و. د نوموړې په اړه سقراط ويلې: "که چېرې زه زين تيپي رام کړای شم، نو په نړۍ کې داسې څوک نشته چې نبغې لارې ته را نه شي."

کوم خلک چې له سقراط وړاندې تېر شوي وو، هغوی ټولو به د اسمانونو او ستورو په اړه فکرونه کول، خو سقراط به تل د انسان په اړه فکر کاوه، په دې توگه لومړنی فيلسوف و، چې فکري تمرکز يې پر انسان و. نوموړی په دې باور و، چې د ستورو په اړه پوهېدل او فکر کول، انسان ته کومه گټه نه لري.

هغه به تل په دې هڅه کې و، چې له خبرو خبرې پيدا کړي. په دې توگه يې د حقيقت موندنه کوله. هغه خبرې يې رد کولې، کومې چې انسانانو پرته له فکره منلې وې. البته بايد يادونه وکړم، چې سقراط خپلې خبرې عادي نه گڼلې او هغه ته يې د الهام نوم ورکاوه. د نوموړي مخالفينو د هغه پر همدې خبرې ريشخند کاوه، ويل به يې: "سقراط د محسوسو خدايانو پر ځای، پر ناليدل شوي خدای باور لري."

د سقراط گڼو فلسفي افکارو ددې پر ځای چې هغه ته عزت وروبخښي، هغه يې د مرگ له گواښ سره مخ کړ. پر سقراط به نيوکې ورځ تر بلې زياتېدې او گڼ شمېر تورونه پرې ولگېدل، چې ځينې يې عبارت دي له:

ـ د منل شوو ملي خدايانو نه منل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ د خپل نالیدل شوي خدای تصور وړاندې کول
ـ ځوانان بې لاري کوي.
دا هغه تورونه و، چې نوموړی یې د زهرو څښلو ته مجبور کړ. البته باید تاسو پوه اوسئ، چې د زهرو څښلو سزا ورته د محکمې له لورې ورکړل شوې وه. که څه هم د نوموړي دوستانو د هغه د تېښتې پلان جوړ کړ، خو د تطبیق په وخت کې یې نوموړي له دې کاره انکاره وکړ. هغه پر دې ټینګار درلود، چې زه له قانونه لوړ نه یم. نو ځکه یې په "**۳۳۹** ق.م" کې پخپله خوښه د زهرو ګوټ وکړ او خپل روح یې خدای ته وسپاره.

**د سقراط ویناوې**

ـ د فکر آزادي یو لازمي څیز دی.
ـ سیاست یو هنر دی، چې د هغه لپاره د خدایي وړتیا ترڅنګ پراخې مطالعې او وړتیا ته ضرورت دی.
ـ ارواه په نېکۍ او ښه والي سره وده کوي او په بدیو سره بربادېږي.
ـ د نفس د تزکیې ټولې لارې چارې له پوهې او علم څخه تېرېږي.
ـ دا فکر مه کوئ، چې ژوند او اولاد له سمې خبرې وړاندې دي. بلکې سمه خبرې تر هرڅه وړاندې دي.
ـ خدایه داسې ساده او یو مخیز ژوند را کړې، چې پټ او ښکاره هر چاته په یو ډول ښکاره شم.
ـ نېکمرغه هغه دی، چې له خپلې هرې خطا نوې تجربه ترلاسه کړي.
ـ د غوسې غوره درملنه خاموشي ده.
ـ رښتینولي هغه لاره ده، چې نېغ دې تر خدایه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هیپاتیا؛ رياضي پوهه او فيلسوفه

د نړۍ د علمي یون په فلسفي او رياضيکي برخه کې د سرلارو له جملې د "هیپاتيا" نوم هم د يادلو وړ دی. نوموړې د نړۍ یوه نوموتې مخترعه، رياضي پوهه او فيلسوفه وه. په دې ليکنه کې به يې په اړه کافي معلومات وموميئ.

**هیپاتیا**

که څه هم ددې سترې فيلسوفې او رياضی پوهې د زېږېدو دقيقه نېټه نه ده معلومه، خو ويل کېږي هغې د څلورمې زيږديزې پېړۍ په وروستيو کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستلي دي. پلار يې تئون نومېده، نوموړی د وخت پياوړی استاد او ديني عالم و. دا چې هیپاتيا له يوې علم پرورې کورنۍ سره تعلق درلود، نو ځکه خو يې د خپلو نوښتونو او فکري ودې لپاره تياره لاره جوړه وه.

کله چې هیپاتيا زېږېدله د سکندريې ښار له پېړيو راهيسې د زده کړو او پوهې ښار و. ـ البته بايد يادونه وکړم، چې سکندريه د يوناني اتل مقدوني سکندر په وخت کې جوړ شوی و. ـ هیپاتيا د خپل ژوند د ځوانۍ ډېر وخت په همدې ښار کې تېر کړ.

د هیپاتيا پلار د رياضياتو استاد او د ستورپوهنې د متونو اصلاح کوونکی و. د نوموړي په اړه تاريخپوهان خورا ډېر معلومات لري خو د هیپاتيا د مور په هکله ډېر معلومات نشته.

دا چې د هیپاتيا د ښکلا او ځوانۍ په اړه ډېر معلومات موجود دي او برعکس د بوډۍ توب د وخت په اړه يې هېڅ خبرې نه دي شوي نو، ځکه خو تاريخ ليکونکي پر دې آند دي، نوموړې به تر پنځوس کلنۍ وړاندې مړه شوې وي. پر دې اساس يې مؤرخان د پيدايښت نېټه ۳۷۰م شاوخوا او د مړينې نېټه يې ۴۱۵م ښيي.

د نوموړې د ماشومتوب په هکله معلومات هم کم دي. فقط دومره ويل شوي، چې هغه يوه ساده نجلۍ وه. که څه هم د وخت اکثره نجونې به هغه وخت له خپلو ميندو سره د کور په کارونو کې بوختې وې، خو هیپاتيا به له خپل پلاره د نړۍ په هکله زده کړې کولې. دا چې نوموړې له يوې علم دوستې کورنۍ سره تعلق درلود، نو ځکه خو يې ناسته ـ پاسته هم له لويو خلکو سره وه. نوموړې په ټوله کې د ښار نوموتې نجلۍ وه. ښکلا او علم يې د ټولو خوښ و. ويل کېږي، هغه دومره ښکلې وه، چې نږدې ټول شاګردان پرې مئين ول. مګر هیپاتيا هېڅکله واده و نه کړ. که هر چا به وړانديز وکړ، نو نهيلي کول به يې. د مرګ د شېبو په اړه يې سندرا ډون وان ليکلي: "د دغو قهرېدلو خلکو مشرانو دغه بې کسه اسيره په کوڅو او سړکونو کشوله، تر هغې چې د سزاريون کليسا ته يې ورسوله. هلته يې د نوموړې د پوهنتون لوی بالاپوش ورڅيرې کړ. تاج يې هم ترې ايسته کړ او جامې يې هم ورڅيرې کړې. وروسته يې د کليسا څو کوزې او پيالې ټوټې کړې او د هغه په ماتو ټوټو يې د هیپاتيا بدن غار غار. کله چې هغه مړه شوه، نو بې روحه بدن يې د ښار پر سړکونو اخوا دېخوا کش کړ او بيا يې له ښاره د باندې يوړ. د سينارون په سيمه کې يې اور ورته بل کړ او د هغې جسد يې وسوځاوه."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ویکټور هوګو ژوند او فن

د نړۍ د نامتو لیکوالو په سرلارو کې د "هوګو" نوم هم د یادولو وړ دی. په دې لنډه لیکنه کې به تاسو د فرانسې هېواد ددې ستر لیکوال په اړه ډېر معلومات ولولئ.

### هوګو څوک و؟

هوګو په نولسمه زېږدیزه پېړۍ کې په څانګړې توګه د فرانسې او په کُل کې د ټولې نړۍ نامتو لیکوال او شاعر دی. د نوموړي بشپړ نوم ویکټور هوګو (Victor Hugo) دی. دې ستر لیکوال په "۱۸۰۲" زیږدیز کال کې د فرانسې هېواد په بزانسون سیمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. ویل کېږي چې نوموړی ډېر کمزوری ماشوم و، نو اکثرو خلکو هیله نه لرله چې هوګو دې ګوندې ژوندی پاتې شي. مګر د خلکو د وړاندوینې برعکس هغه ژوندی پاتې شو او یو ستر لیکوال ترې جوړ شو.

هوګو لومړنۍ زده کړې په پاریس کې وکړې. له یو څه مودې وروسته یې په شعر، لاتیني ژبه او ریاضي کې ښه نوم وویست. هوګو خپله شاعري د مکتب په دوره کې پیل کړه او شاعری یې په ښوونځي کې مډال وګټه. په همدې وخت کې ورته د فرانسې بل نوموتي لیکوال "شاتوبریان" د "عالي ماشوم" لقب ورکړ.

د هوګو شعري ټولګه په ۱۷ کلنۍ کې چاپ شوه. چې خلکو یې ښه هرکلی وکړ. په یوویشت کلنۍ کې د فرانسې پاچا لخوا پر دندې وګومارل شو او دوه زره فرانکه یې معاش و. په هغه وخت کې دا ډېرې پیسې وې. په همدې توګه هوګو سیاسي لوبې ته هم ور ودانګل. له دې کبله یې په ژوند کې ډېرې لوړې ژورې هم ولیدې.

ددې ستر لیکوال ځینې مهم اثار عبارت دي له: ((هغه سړی چې خاندي، بېنوایان، د خزان پاڼې، د یوه محکوم وروستۍ ورځ، وړوکی ناپیلیون او ...))

هوګو په "۱۸۸۵" زیږدیز کال کې ناروغ شو. ډېر خلک به یې پوښتنې ته راتلل. چې په پای کې د همدې کال د می په شلمه تاریخ د درې اتیا کالو په عمر ومړ. پخپله یې وصیت کړی و، چې:

ـ له خپلو شتو څخه ۵۰۰۰۰ فرانکه بېوزلانو ته بخښم.

ـ زما جسد د فقیرانو په تابوت کې هدیرې ته ورسوئ.

ـ د کلیسا له دعا او بخښنې بېزاره یم.

ـ غواړم خلک راته دعا وکړي.

ـ پر خدای بشپړ ایمان لرم.

### د هوګو ویناوې

ـ ژوند ریاضي ده. ښېګڼې جمع کړئ، شخړې منفي کړئ. خوښي ضرب کړئ! دردونه تقسیم کړئ. د نفرت جذر وباسي او عشق پر توان لوړ کړئ.
ـ احتیاط د پوهانو لومړنی شرط دی.
ـ هر ښوونځی مو چې پرانیست، د زندان یو ور مو وتاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ حېوانات له دې امله نېکمرغه دي، چې دوزخ ته نه ځي.
ـ ناکام خلک انرژي نه، بلکې هوډ او اراده نه لري.
ـ بد چانسه سړی هغه دی، چې پر خپلو وړتیاوو باور نه لري.
ـ ادبيات د تمدن پټ راز او شعر د پټو هیلو سرچينه ده.
ـ تنبلي دوه اولادونه لري. زوی يې غل او لور يې لوږه نومېږي.
ـ له هغه چاسره مينه وکړه، چې ستا د مينې وړ وي، نه د مينې وړی. ځکه چې د مينې وږی يوه ورځ مړېږي.
د بېوزله سړي ملگری یوازې چوپتیا او "هو" ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شکسپیر ژوند او فن

د نوموړي بشپړ نوم ویلیام شکسپیر (William Shakespeare) دی. دی هغه نامتو لیکوال او متفکر دی، چې په نړۍ کې داسې لوستي خلک ډېر کم دي چې له نامه سره به یې اشنا نه وي. همدارنګه ویل کېږي، چې په انګلستان کې داسې کورونه بېخی لږ دي، چې د شکسپیر کتاب دې په کې پیدا نه شي. دی اصلا د انګلستان دی. خو وخت ناوخت یې په اړه ځینې عجیبې څرګندونې هم شوي دي.

یو ځل د لیبیا ولسمشر (معمر قذافي) ویلي و، چې شکسپیر اصلا عرب و. خو کله چې انګرېزان د هغه په نبوغ پوه شول نو انګلستان ته یې یووړ.

ددې ترڅنګ ګڼې نورې عجیبې دعوې هم شوي دي، مګر بیا هم مؤرخین سره په یوه خوله دي او شکسپیر یې د انګلستان بللی دی. دا چې نوموړی د ښه فکر او حافظې خاوند و، نو ځکه خو یې خپل دینې کتاب په ډېر وړوکوالي کې حفظ کړی و.

دا چې د هغه وخت علوم اکثره په لاتیني ژبه ول نو شکسپیر هم یاده ژبه زده کړه او ګڼ فلسفي، ادبي او علمي کتابونه یې مطالعه کړل. د وخت په تېرېدو سره ترې لوی لیکوال او ډرامه لیکونکی جوړ شو. دا چې ډرامې یې ځانګړي فیلسوفانه رنګونه لري، نو ځکه خو یې له اکثرو فلمونه هم جوړ شوي دي. نوموړی یوازې یو ډرامه لیکونکی نه و، بلکې یو ښه شاعر هم و. اشعار یې تر اوسه هم ګڼ مینوال لري.

د زېږېدو او مړینې نېټه یې دقیقه معلومه نه ده. خو تاریخپوهان یې د مرګ نېټه "١٦١٦م" کال اټکلوي. د اولادونو په اړه یې ویل کېږي، چې درې زامن یې دلودل او درې واړه نالوستي وو. که څه هم د اثارو اندازه یې معلومه نه ده. خو اټکل یې ۳۷ ډرامې او ۱۵۴ عنوانه شعرونه دي.

**د شکپیر ویناوې**

ـ څومره چې ستا کارونه اړین وي، هومره به دې دښمنان ډېر وي.
ـ د انسان کار دا دی، چې سبا په نن او نن په پرون بدل کړي.
ـ پوچ او بې کماله سړی، لکه تش لوښی ډېر شور کوي.
ـ خدای تاته یو مخ درکړی، خو ته بل مخ غوره کوې.
ـ هرڅوک چې قناعت نه لري، تر ټولو غریب.
ـ که چېرې ټوله نړۍ له ترخو ډکه شي، زه به یې د خوږو په هیله وزغمم.
ـ لېونی، مئین او شاعر، دا درې واړه له یوې ډلې دي. ځکه چې دوی ټول خپل ژوند په خیال کې تېروي.
ـ موږ د زېږېدنې پر مهال ژړېږو. ځکه چې پوهېږو، په نړۍ کې به له لېونتوب او حماقت سره مخ کېږو.
- وخت پر هغو خلکو باندې چې منتظر دي، ډېر ورو، په هغو کسانو چې په وېره او ډار کې دي، ډېر تریخ په هغو کسانو چې غمجن دي ډېر اوږد او پر هغو کسانو چې خوشحاله دي. ډېر تېز تېرېږي. خو هغوی چې مئین د هغوی وخت پیل او پای نه لري.
ـ نړۍ د یوې صحنې په شان ده. هرڅوک باید د خپل رول له اداکولو وروسته صحنه بل کس ته پرېږدي. نو یوازې هغه کسان په یاد وي، چې خپل مسولیت سم ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوم ورکې شاعره، چې له مړينې وروسته وپېژندل شوه

د امريکا په ادبياتو کې او شاعرۍ کې يو روښانه نوم د ايمېلي ډيکنسن "Emily Dickinson" هم دی. معاصر امريکايي ادبپوهان يې د نوي امريکايي شعر مور بولي.

دده پهٔ اړه عجيبه خبره دا ده، چې نوموړې پهٔ خپل ژوند کې هېڅ چا د يوې شاعرې پهٔ توګه و نهٔ پېژندله. حتی پهٔ کورنۍ کې يې هم څوک خبر نهٔ و. کله چې ډيکنسن مړه شوه، خور يې دده بکس پرانيست، دا نو يو عادي بکس نهٔ و، ځکه لهٔ شعرونو ډکه صندوقچه وه، چې شمېر يې لهٔ ۱۷۰۰ عنوانو څخه اوښته.

مېرمن ډيکنسن پهٔ "۱۸۳۰ م" کال د امريکا متحده ايالاتو پهٔ "امهيرسټ" ښارګوټي کې دې دنيا ته سترګې غړولي دي. کله چې د نوموړې شعرونه پهٔ رسنيو کې خپاره شول، نو دا ښارګوټی د "ايمېلي ډکنسن" د ټاپو پهٔ نوم ثبت شو.

پلار يې ديني سخت دريځی و، نو ځکه ايمېلي هم ګوښه ګيره ښځه وه.

پهٔ خپلې شاعرۍ کې يې تر ډېره د مرګ يادونه کړې. هغسې صحنو ته تللې چې تر مرګ وروسته به ورځي. دا پوښتنه چې لهٔ مړينې وروسته څهٔ پيښېږي؟ پهٔ بېلابېلو ډولونو ځواب کړې. خو تر آخره يې کوم بشپړ ځواب نهٔ دی موندلای. بالاخره "۱۸۸۶ م" کال کې د همدې پوښتنې بشپړ ځواب پيدا کېدلو ځای ته ولاړه.

**د شعرونو بېلګې يې:**

زهٔ هېڅ څوک يم!
تهٔ څوک يې!؟
کهٔ تهٔ هم هېڅ څوک وې
بس دواړه جوړه يو سره
هېڅ چا ته مهٔ وايه
هسې نه، خلک دي
رسوا مو نهٔ کړي!

**د يوه بل شعر ژباړه يې داسې ده:**

د نفرت لپاره مې وخت نهٔ درلود
ځکه چې اجل مې مخه نيوله
او عمر دومره اوږد نهٔ و
چې پهٔ هغه کې مې کينه پاللې وای
د مينې لپاره هم فرصت نهٔ و
مګر تر کومه ځايه چې کېدله
د لږې مينې زحمت مو ځان ته ورکړ.
نوټ: پورتني شعرونه د استاد مصطفی صفا له اثر څخه اخيستل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوشکین ژوند ته یوه لنډه کتنه

د پوشکین په اړه د روسیې بل نامتو لیکوال ماکسیم گورکي وایي: "پوشکین په روسي ادبیاتو کې د ټولو پیلامو پیل دی."

د روسیې دغه نامتو لیکوال په "۱۷۹۹م" کال کې د روسیې په پلازمېنه مسکو کې دې نړۍ ته سترگې وغړولې. بشپړ نوم یې الکساندر پوشکین "Alexander Pushkin" دی. نوموړی په یوې لویې کورنۍ پورې تړاو درلود، خو دده زېږېدنې پر مهال د کورنۍ پخوانی روب داب نه پاتې.

کله چې دولس کلن شو، په "تسارسکویوسلو" ښوونځي کې زده کړې پیل کړې. دا هغه ښوونځی دی، چې لومړني الکیسانډر جوړ کړی دی، او هلته د لویو کورنیو ماشومان زده کړې کوي. وروسته په پیټرزبرگ کې د بهرنیو اړیکو پوهنځی هم ولوست. خو نوموړي به د رسمي زده کړو، ترڅنگ د ادیبانو مجلسونو هم نه قضا کول او اروپایي ادبیات هم په مینه لوست.

پوشکین په کم عمر کې شعر لیکل پیل کړي وو. آن د لیسې په دوره کې یې ۱۰۰۰ پاڼکي شعرونه لیکلي وو. همدارنگه ډېر ژر په ټوله روسیه کې مشهور شو. هرې ادبي غونډې کې به یې تود هرکلی کېده. له ډېرو ادبي هڅو او لاسته راوړنو وروسته په "۱۹۳۷م" کال کې ووژل شو.

**د شعر بېلگه:**

دا غمجنې شان شپې<br>
او ستا د سترگو له ښکلا چې رخصتېږم<br>
دا وختونه مې خوښېږي<br>
طبیعت په تشریفاتو خاورې کېږي<br>
ځنگل سرې او طلایي جامې اغوستې<br>
او وږمې داسې شغېږي<br>
لکه څوک چې په آرامه ساه اخلي<br>
لړې گرځي پر آسمان یې<br>
د څپو څادر خپور کړی<br>
د لمر وړانگې هم تار تار دي<br>
د هوا دا سړې منډې<br>
لا له ورایه راته گواښ کړي<br>
چې سپین ژمی را روان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هټلر ولې یهودان وژل؟

تاسو به په ښوونځي، پوهنتون او یا هم د نورو له خولې د هټلر نوم او د یهودانو د وژلو کیسې اورېدلې وي. خو په دې به په نه پوهېدئ، چې هټلر ولې یهوادن وژل؟ ددې لیکنې په دوام کې به د هټلر په اړه لاډېر پوه شئ.

### هټلر څوک و؟

هټلر په اتریش کې ـ چې هغه وخت د مجارستان برخه وه ـ وزېږېد. په "۱۹۱۳م" کال کې جرمني ته وکوچېد او د لومړۍ نړېوالې جګړې پر مهال د المان هېواد په پوځ کې وجنګېد. په "۱۹۱۹م" کې د المان هېواد کارګر ګوند سره یو ځای شو. په "۱۹۲۱م" کې د نازیانو د ګوند مشر وټاکل شو، چې دوه کاله وروسته یې د کودتا هڅه وکړه، خو ناکام شو او زندان ته ولېږل شو.

په زندان کې یې د خپل کتاب لومړی جلد بشپړ کړ. کله چې په "۱۹۲۴م" کال کې له زندانه ازاد شو، د خپل کارزماتیک شخصیت له کبله ډېر ژر یې د وګړو ترمنځ شهرت او محبوبیت ترلاسه کړ. هغه به سرمایه داري او کمونېزم د یهودانو چل باله.

په ۱۹۳۲ کې که څه هم نازي حزب ډېرې رایې درلودې خو بیا هم اکثریت نه وو. پر همدې اساس پخواني صدراعظم او د کابینې نورو غړو د وخت ولسمشر "پاول فون هیندنبورګ" دې ته راضي کړ، چې هټلر صدراعظم شي. همداسې وشول او په دې توګه نوموړی لوړ موقف ترلاسه کړ.

هیټلر فکر کاوه، د المان طبیعي سرچینې المانیانو ته کافي نه دي نو ځکه خو یې د نورو هېوادونو د نیولو هڅه کوله او جګړه یې پیل کړه. خو له ډېرو جګړو وروسته یې چې کله ماتې وخوړه، نو په "۱۹۴۱م" کال کې بېرته آلمان ته وګرځېد. د "۱۹۴۵م" کال د اپریل په ۲۹ یې له خپلې معشوقې سره واده وکړ، خو له واده دوه ورځې وروسته دې جوړې له دې وېرې ځانوژنه وکړه، چې روسي لښکر یې و نه نیسي.

### هټلر یهوادن ولې وژل؟

نوموړی پخپل کتاب "زما جګړه" کې په دې اړه مفصلې خبرې کړې دي. چې لنډون یې داسې دی: "ما په اتریش کې له خپلې کورنۍ سره په یوه کوټه کې ژوند کاوه. زه د کورنۍ مشر وم. مور مې د سینې سرطان درلود. یو سهار چې ساړه هم وو، مور مې په داسې حال کې چې ډېره کمزورې وه او سترګې یې له اوښکو ډنډې وې په غوږ کې وویل: "ته باید د خپل کوچني ورور او خور ساتنه وکړې." په دې وخت کې زما عمر له نهو کالو کم وو. سر مې د مور په سینه کېښود او په چغو چغو مې وژړل. منډې مې کړه، چې مور ته مې درمل راوړم. مور ته نږدې درملتون د یهودانو وو. په بېړه مې وویل: "درمل راکړه! مور مې مري." هغوی په داسې حال کې چې خندل یې ویې ویل، پلار دې راولېږه چې ډاکټر کور ته بوځي. ما که هر څومره هڅه وکړه، خو قانع مې نه کړل، چې پلار مې مړ دی. او ماته دې درمل راکړي. هغوی بیا هم پر له پسې خندل. نو له درملتون نه مې غلا وکړه. که څه هم یهودي راپسې منډه کړه. خو ما چې کور ته درمل رسول مور مې مړه وه. په دې وخت کې هغوی را ورسېدل. په وهلو ـ وهلو یې له کوټې وویستم او بیا یې بندي کړم. خو کله چې رهبر شوم لومړی مې هماغه درملتون ویجاړ کړ او بیا مې هغه یهودي او دوستان یې ووژل." نوموړي د همدې پېښې له کبله یهوادن ډېر بد منل او په وژلو کې یې هېڅ دریغ نه کاوه.

نوټ: په پورتني روایت ځینو ملګرو نیوکه کړې وه، چې خیالي جوړ شوی. ما غوښتل لرې یې کړم؛ خو بیا مې فکر وکړ، چې دا کیسه ګۍ (روایت) یو ښه درس لري، نو وې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخماتووا؛ شاعره، ژباړنه او کره کتونکې!

د ادبیاتو په نړۍ کې د نارینه وو ترڅنګ مېرمنو هم خپله برخه زیار او زحمت ویستی، چې له دې ډلې یې د اخماتووا نوم هم ځلانده دی. د لیکنې تر پایه به یې په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

**پېژندنه**

د روسیې ددې نوموتې ژباړنه، شاعره، لیکواله او کره کتونکې بشپړ نوم انا اخماتووا (Anna Akhmatova) دی. نوموړې د اوسني اوکراین د "اديسې" په ساحلي ښار کې زېږېدلې ده. پلار یې د سمندري پوځ انجینر و. نوموړې د "ځارکو سیلو" سیمې په یوه مشهوره لیسه کې زده کړې پیل کړې. نوموړې وایي، چې یوه ورځ د خپل پخواني کور له مخې تېرېدو، چې مور مې را غږ کړل د خپلې زېږېدنې ځای دې ګوره. ما له ټوکو وویل، چې یوه ورځ به ددې کور په دروازه به غټ لیکل شوي وي، د روسیې ستره شاعره انا دلته زېږېدلې وه. که څه هم نوموړې دا له ټوکو ویلي و، خو رښتیا همداسې وشول. هغه دومره مشهوره شوه، چې اوس په روسیه کې شپږ موزیمونه د نوموړې په یاد جوړ شوي دي. په ښوونځي کې یې روسي او فرانسوي دواړه ژبې زده کړې. خپل لومړنی شعر یې په یوولس کلنۍ کې لیکلی. نوموړې وروسته له خپلې مور سره کیف ته لاړه او هلته یې د حقوقو یوهنځی ولوست. هلته یې لاتیني او ایټالوي ژبې هم زده کړې. په ۱۹۱۰ کې یې د روسیې له بل نوموتي شاعر او ادبپوه نیکولای ګومیلیوف سره واده وکړ. دواړه پاریس ته لاړل او د خپل خاوند له برکته یې د روسیې لوی لیکوال او شاعران وپېژندل. وروسته یې خاوند د نظام پر وړاندې د بغاوت په تور اعدام شو، له هغه وروسته یې ژوند د لاسته راوړنو ترڅنګ له ستونزو هم خالي نه وو. له ګڼو ادبي فعالیتونو وروسته په ۱۹۶۶ کال کې د ۷۷ کلونو په عمر له دې نړۍ څخه د تل لپاره سترګې پټې کړې.

**د شعر بېلګې**

ـ (۱)
دلته لکه چې
هېڅ د انسان غږ نه تر غوږ کېږي
دلته لکه چې تر شنه اسمان لاندې
یوازې زه ژوند کوم
ځکه چې لومړنۍ انسانه وم
چې د زهرو د جام هیله مې وکړه
ـ (۲)
راشه او پوښتنه رانه وکړه
پوهېږم دلته نږدې چېرته یې
راشه یواځې او یواځې یم
یوازې د مرغۍ د وزرو د غږ په اندازه
څه راته ووایه!
ـ (۳)
موږ چې د ځمکې پر مخ
د آرامۍ یوه ګړۍ نه ده لیدلې
په پای کې به له یوه مخه
تر دغې خاورې لاندې آرام وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوفوکلیس لا ډېر وپېژنئ!

لکه د نورو ډېرو علومو د ادبیاتو بنسټ هم په یونان کې ایښودل شوی دی. لرغوني یونان داسې پاخه لیکوال، فیلسوفان او شاعران درلودل، چې آثار یې آن تر ننه لوستل کېږي او لوی ادبي ارزښت لري.

ډرامه یو هنري ادبي ژانر دی، چې ددې ژانر د لیکنې لړۍ هم له لرغوني یونانه پیلېږي. د ډارمه لیکونکو په سرلارو کې یو روښانه نوم "سوفوکلیس دی، چې په دې لیکنه کې به یې لا ډېر وپېژنئ!

**سوفوکلیس**

د لرغوني یونان دا ستر او نامتو ډرامه لیکونکی، چې سوفوکلیس (Sophocles) نومېږي، دده د ښو ډرامو له کبله ورته د اتل مېړه "Heroes dexion) لقب ورکړل شو وو. خو باید یادونه وکړم، چې دا لقب د نوموړي له مړینې وروسته ورته وکارول شو.

نوموړی له میلاده "۴۹٦ ـ ۴۰٦" کاله وړاندې د یونان پایتخت (آتن) ته په یوه نږدې سیمه کې زېږېدلی و. پلار یې یو شتمن پښن و.

نوموړی د ځوانۍ په درشل کې و، چې د آتن فاتح لښکر د جګړې له سیمې "سلامیس" څخه راستون شو. په همدې وخت کې دی، نوموړي ته د هغو ځوانانو مشري ورکړل شوه، چې لښکر ته یې د هرکلي سندرې ویلې.

دی دومره ځیرک او زړور و، چې په پنځه ویشت کلنۍ کې د جنرالۍ مقام ترلاسه کړ. نوموړي اجتماعي شخصیت درلود، له ځینو نامتو څېرو لکه، پرېکلېس، هېرودت او فیدیاس یره یې نږدې اړیکې درلودې، له همدې امله د ادبي فعالیتونه ترڅنګ یوه نوموتی سیاسي څېره هم وه.

د ټولو ډرامو شمېر یې نږدې "۱۳۰" ته رسېږي. چې له ډلې یې یوازې "۷" ډرامې د تاریخ له نادودو خوندي پاتې دي. هېره دې نه وي، چې سوفوکلېس شل ځله په ډرامه لیکنه کې لومړی مقام خپل کړی و.

دده په ډرامو کې تر ټولو مشهوره، کومه چې د یونان لوی فیلسوف ارسطو هم ادبي شهکار بللی "د اودیپ پاچاه" نومېږي. د دې ډرامې په اړه، ډېرو لویو لیکوالو لیکنې کړي دي، چې آن اوسنۍ اروپوهنه یې هم د ماخذ په توګه کاروي.

**د ډرامه لیکنې ځانګړنې**

که څه هم سوفوکلیس یو دودپاله سړی و، نه شوای یې کولی، چې د ارباب الانواعو په اړه کوم څه ولیکي خو بیا یې هم په ډرامو کې ځینې ځانګړنې بیانولای شو. لکه:

ـ د ډرامو سوژه یې تقریبا د لرغوني یونان اساطیر دي.
ـ د ډرامو اتلان یې سرزوري او پیاوړي خلک دي.
ـ د آثارو ژبه یې خورا روانه او عام فهمه وه.
ـ په ډرامو کې یې درېیم کریکټر ته ځای ورکړ.
ـ ډرامې یې آن په ښوونځیو کې تدریسېدل.
ـ ډرامې به یې بشپړې وې. (د هغه وخت لیکوالو داسې ډرامې لیکلې، چې په یو نامعلوم ځای کې به یې پای ورکړ، بیا به یې بله ډرامه کې همدې پیښې ته دوام ورکاه. خو سوفوکلیس داسې نه کول.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاسترناک؛ نوبل گټونکی لیکوال!

د نړۍ په ادبیاتو کې نوم موندل ډېر گران کار وي؛ یوازې خلاق او پیاوړي لیکوال دا مقام ترلاسه کولی شي، چې په دې ډله کې پاسترناک هم دی. د لیکنې تر پایه به یې په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

**پاسترناک**

د روسیې ددې نوموتي لیکوال بشپړ نوم باریس پاسترناک "Boris Pasternak" دی. په روسیه کې دویم کس و، چې د نوبل جایزه یې ترلاسه کړې ده. باریس په "۱۸۹۰م" کال کې په مسکو کې وزېږېد. دی لا کوچنی و، چې شاعرۍ او رسامۍ ته یې مخه کړه. خو دا هر څه هوایي نه وو، بلکې له خپلې کورنۍ او په ځانگړې توگه له پلار څخه اغېزمن و. پلار یې یو ښه رسام و، د انځورگرۍ په پوهنځي کې یې د استادۍ دنده لرله. له لومړنیو زده کړو وروسته، په "۱۹۰۳م" کال کې یې د مسکو پوهنتون د تاریخ او فلسفې پوهنځي زده کړیال شو. د لا ډېرو زده کړو لپاره یې هامبورگ ته سفر وکړ. کله چې له آلمانه را وگرځېد نو خپله لومړنۍ شعري ټولگه یې خپره کړه. په مسکو کې د دندې ترڅنگ د نړۍ نامتو لیکوال هم مطالعه کړل. په "۱۹۲۳م" کې یې بله شعري ټولگه هم خپره شوه، په همدې کال یې له یوې انځورگرې سره واده وکړ. شعر یې پېچلی جوړښت درلود. نا اشنا مسایل یې په شعر کې ځایول. خو دی د شعر تر پولو محدود پاتې نه شو، نثر لیکل یې هم پیل کړل. په لنډه موده کې یې دوه کتابونه خپاره کړل. د نثر ترڅنگ یې ژباړې ته هم مخه کړه او ځینې آثار یې روسی ژبې ته وژباړل. تر دې دمه پاسترناک په ملي کچه مشهور و، خو کله چې یې "ډاکټر ژایگو" په نوم رومان ولیکه نړۍ وال شهرت یې وموند. دا هماغه اثر دی، چې نوموړي پرې د نوبل جایزه ترلاسه کړه. خو د روسیې کمونیست حکومت دا کړنه د غربیانو دسیسه وبلله او نوموړی یې پرېنښود چې جایزه ترلاسه کړي .له دې کبله د هغه له مرگ ۳۰ وروسته یې جایزه زوی ته وسپارل شوه. بالاخره د روسیې دا ستر لیکوال، ژباړونکی او شاعر په "۱۹۶۰م" کې د ۷۰ کلونو په عمر ومړ.

**د شعر بېلگه**

زه لکه ځناور، قفس ته لویدلی یم.
چېرې لرې، خلک، ازادي او رڼا
خو ما پسې یو شور او هیاهوی گډ دی
ماته له دې قفسه د وتو حق نشته
تیاره ځنگل او د ساحل چینې
نښتر لویدلی او لاره نشته
لارې ړندې له هرې خوانه
هر څه چې کېږي، هغه به کېږي
باک یې نشته
ما څه لېونتوب وکړ؟
دا زه قایل یم که ظالم یم
ما ټوله نړۍ دې ته اړ ویسته
ما اړ ویسته چې زما د مینې پر ښکلاوو اوښکې تویې کړي
که څه هم د گور پر غاړه ولاړ یم
خو په دې ایمان لرم
چې داسې سبېې راتلونکې دي
چې عدالت به د حق او باطل ترمنځ کرښې باسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نابغه لیکوال "تورګینیف" وپېژنئ!

د نړۍ والو ادبي څېرو د پېژندنې په لړ کې به نن د روسیې د نولسمې پېړۍ نامتو سبک پېژندونکي او لیکوال په اړه لا ډېر پوه شئ. د لیکنې ترپایه د ښاغلي تورګینیف پر ژوند او فن ډېرې خبرې وشي.

**تورګینیف**

د روسیې ددې ستر لیکوال او سبک پېژندونکي بشپړ نوم ایوان تورګینیف "Ivam Turgenev" دی. اکثره څېړونکي یې نابغه لیکوال ګڼي. نوموړی په "۱۸۱۸م" کال کې د روسیې په اریول ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. کورنۍ یې شتمنه وه. مور یې د سیمې ترټولو شتمنه ښځه وه؛ شتمني ورته د تره له طرفه د میراث په شکل ورپاتې و. پلار یې هم یو افسر و.

له شتمنې کورنۍ سره د تعلق له امله نوموړي ډېرې ښې زده کړې ترسره کړې. والدینو یې نوموړي ته کورنۍ ښوونکي ګمارلي و، چې د وخت ډېر لوی استادان ګڼل کېدل. په وروستیو کې یې په برلین کې زده کړې وکړې. هلته په پوهنتون کې یې د فلسفې په برخه کې زده کړې وکړې.

د روسیې له نامتو لیکوالو سره د تورګینیف ناسته ولاړه په "۱۸۱۴م" کال کې له اروپا څخه تر ستینېدو وروسته پیل شوه.

د دغو نامتو لیکوالو له جملې، چې تورګینیف ورسره اړیکې درلودې، یو هم "ګوګول" و. څېړونکي د تورګینیف په اړه وایي:"که تورګینیف د (ګوګول) په څېر خلاق، د داستایوفسکي په شان د مسایلو سپړونکی او د تولوستوی په څېر تحیلګر نه وي، خو بیا هم نوموړي په روسي ادبیاتو کې خپل قوت ښودلی دی."

نوموړي په زلمیتوب کې څو شعرونه لیکلي وو. خو فکر یې نه کاوه، چې لوی شاعر به شي. تورګینیف په داسې حال کې لیکل کول، چې د وخت لیکوالو به پر خپلو لیکنو پیسې ګټلې، مګر نوموړي هیڅکله دا کار و نه کړ.

هغه به ډېرې پخې او سنجیده لیکنې کولې. ترڅنګ یې راښکونکي رومانونه او کیسې یې هم لیکلې. امریکایی لیکوال "البرت جي ناک" یې په اړه وایي "د تورګینیف اثار به تر ډېره په روسیه او اروپا کې لوستونکي ولري."

د نوموړي لویه هیله دا وه، چې د پوهنتون پروفیسور شي؛ خو له ادبي نړۍ سره د تړاو له کبله ډېر بوخت شو. تر ډېره به یې اروپا ته سفر کاوه. دا چې د عمر ډېر کلونه یې په فرانسه کې تېر کړل، نو هلته یې هم له پیاوړو لیکوالو سره راشه درشه درلوده.

**په نثر کې شعرونه، د نجیب زاده ګانو ځاله، لوګی، پلرونه او زامن، یوه ورځ مخکې، د اضافي انسان ورځنې یادښتومه** او ځینې نور د نوموړي له مهمو اثارو څخه ګڼل کېږي.

له ګڼو ادبي هڅو او فعالیتونو وروسته، نوموړی په "۱۸۸۳م" کال کې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پاول ایلوار

د نړۍ په ادبیاتو کې پاول ایلوار یو خاص نوم دی. نوموړی د فرانسې هېواد د شلمې پېړۍ له هغو شاعرانو دی، چې د سوریالېزم د ادبي مکتب له بنسټګرو ګڼل کېږي. په دې لیکنه کې به د همدې شاعر په اړه لا ډېر پوه شئ.

**پېژندنه**

د فرانسېددې ستر شاعر اصلي نوم "ایوژن ګرندل" دی، خو د پول ایلوار (Paul Eluar) په نوم مشهور دی. نوموړی په "۱۹۸۵م" کال کې د فرانسې په سن دني ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. مور یې خیاطي کوله او پلار یې هم یو عادي کارکوونکی و.

کله چې ایلوار له ښوونځي فارغ شو، پر نري رنځ اخته شو. څکه نو نوموړی و نه توانید لوړې زده کړې ترسره کړي. د یو اوږد سفر او استراحت لپاره سویس هېواد ته لاړ هلته یې یو نیم کال تېر کړ. په ښکلو ښارونو، غرو رغو وګرځېد. چې کله بېرته راستون شو نو روغ جوړ و.

په همدې وخت کې یې شاعري هم پیل کړه. وروسته یې یو څه موده عسکري هم کوله. د شعرونو لومړنۍ ټولګه یې په "۱۹۱۷م" کې چاپ شوه. د خلکو له تاوده هرکلي وروسته نوموړی لا وهڅېد. نور شعرونه یې هم ولیکل.

کله چې په "۱۸۲۴م" کې له خپلې مېرمنې جلا شو. سخت رواني حالت یې تجربه کړ. بیا یې سفر ته مخه کړه. د چین، هند، مالیزیا او سینګاپور په ګډون ګڼ شمېر آسیایي هېوادونه یې ولیدل.

د خپل ژوند په جریان کې ګڼ شمېر شعرې ټولګې یې خپرې کړې. بالاخره له ګڼو ادبي فعالیتونو وروسته په "۱۹۵۲م" کې د ۵۷ کلونو په عمر ومړ.

**د شعر بېلګه**

خپلې مخې ته مې وکتل
په ګڼه ګونه کې مې ته ولیدې
د غنمو د وږیو په منځ کې مې ته ولیدې
د خپلو ټولو سفرونو په پای کې
د خپلو ټولو عذابونو په زور کې
د خپلو ټولو خنداګانو په شور کې
په اوبو او په اور کې
په اوړي او ژمي کې مې ته ولیدې
په خپل کور کې مې ته ولیدې
په خپلو خوبونو کې مې ته ولیدې
زه به نور ستا له مینې لاس وانخلم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکلا پېژندونکی اوسکار وایلډ وپېژنئ

د نړۍ والو ادبي څېرو د پېژندنې په لړۍ کې به نن د آیرلېنډ هېواد نوموتی شاعر او لیکوال وپېژنئ. د لیکنې تر پایه به د نوموړي د ژوند، آثارو او ویناوو په اړه لا ډېر پوه شئ.

**پېژندنه**

د آیرلېنډ د نولسمې پېړۍ ددې ستر شاعر او لیکوال بشپړ نوم اوسکار وایلډ "Oscar Waild" دی. هغه په "۱۸۵۶" زېږدیز کال کې داسې کورنۍ کې سترګې پرانیستې، چې لوستې وه او آرامه وه. نوموړی د آیرلېنډ په مرکز "دوبلین" ښار کې وزېږېد. پلار یې د سترګو او غوږونو ډاکټر و. مور یې هم بې کماله ښځه نه وه. تکړه لیکواله او ژباړنه وه. ځینې مشهور آثار یې له فرانسوي ژبې انګلېسي ته ترجمه کړي وو. د خپلې کورنۍ اغېز ددې سبب شو، چې اوسکار اهل ذوق شي.

اوسکار خپلې لومړنۍ زده کړې په شاهي ښوونځي کې پای ته ورسولې او ورپسې یې په ماکدالن پوهنتون کې کلاسیک رومي او یوناني ادبیات په پوره لېوالتیا ولوستل. دا چې نوموړی ذهین وو، په لومړۍ درجه فارغ شو او د سرو زرو مډال یې هم وګاټه.

نوموړي په "۱۸۸۴ زېږدیز" کال کې د یوه وکیل لور چې "ماري" نومېده، په ډېرو زاریو واده ته راضي کړه. همدا یې بیا د دوو اولادونو مور هم شوه.

اوسکار به په یوه کالج کې ښکلاپېژندنه تدریسوله. ترڅنګ به یې ورځپاڼو ته مقالې او شعرونه هم لیکل. ورپسې یې داستاني ادبیاتو ته مخه کړه.

نوموړي ښکلاپېژندنه ډېره ښه مطالعه کړې وه، نو په همدې خاطر هنرمندانو امریکا او کاناډا د ښکلا پېژندونکي په توګه دعوت کړ او څو میاشتې یې هلته تېرې کړې.

اوسکار په ۱۸۹۰ زېږدیز کال کې د "The picture of Dorian Gry" په نوم ناول ولیکه. دغه اثر نوموړي ته ډېر شهرت ور په برخه کړ. ځینې نور مشهور آثار یې "خوشحاله شهزاده، سالومه، یوه بې ارزښته ښځه، د انارو کور" نومېږي.

بالآخره دا تکړه لیکوال او شاعر د غوږونو د التهاب له امله په ۱۹۰۰ میلادي کال کې د ۴۴ کلنو په عمر ومړ.

**ویناوې**

ـ دوست د نورو په مخ کې ستایه او په یواځینوب کې ورته نصیحت کوه.
ـ نن سبا خلک د هر شي قیمت پېژني، خو په ارزښت یې نه پوهېږي.
ـ تجربه هغه سرلیک دی، چې هرڅوک یې خپلو غلطیو ته عنوان ټاکي.
ـ کله چې خدای "ج" وغواړي یو څوک فاسد کړي، هغه خپلو ټولو هیلو ته رسوي.
ـ کار هغه شی دی، چې له نورو یې د کولو تمه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګاندي لنډ ژوندلیک!

نړۍ ته ډېر انسانان راځي، د ځينو فکر يوازې تر خپل ځانه محدود وي او ځينې نور بيا د خپلې خاورې او يا هم د ټولې نړۍ د آرامۍ او سوکالۍ فکر لري. کتابتون ويبسايټ د همداسې نوموتو څېرو د پېژندنې لړۍ پيل کړې ده. د نړۍ نوموتو څېرو د پېژندنې په لړۍ کې به تاسو دا ځل د هند د آزادي غوښتونکو مشر "ګاندي" وپېژنئ.

**ګاندي څوک و؟**

د هند د آزادي غوښتونکو ددې مشر بشپړ نوم "مهانداس کارامچاند ګاندي" دی. نوموړی د "۱۸٦۹زېږديز" کال د اکتوبر په دويمه د هند په پوربندر ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستلې. کورنۍ يې په ټولنيز او اقتصادي لحاظ متوسط حالت درلود. کله چې په "۱۹۱۸م" کال کې د هند د ملي کنګرې واک ورکړل شو، هنديانو هغه ته د "مهاتما" لقب ورکړ، چې د "لوی روح" معنا لري. په اوس وخت کې يې ټول په همدې نامه پېژني. د زوکړې ورځ ته يې هنديان په ځانګړې ارزښت قايل دي. څکه خو دا ورځ په ټول هند کې عمومي رخصتي وي.

نوموړی "۱۹" کلن و، چې له خپلې کورنۍ سره هند ته لاړ. هلته يې د حقوقو په برخه کې زده کړې وکړې. همدرانګه د ورځپاڼو په چلولو کې هم هلې ځلې کولې، ترڅنګ يې د وکالت دنده هم کوله.

ويلای شو نوموړی د هند لپاره سياسي او معنوي مشر و، چې هنديان يې د بريتانوي امپراتورۍ له استعمار څخه وتلو ته رهبري کړل. هغه د هند د خپلواکۍ لپاره نه ستړي کېدونکي هلې ځلې وکړې، تر دې چې هنديانو ورته "د ملت پلار" لقب هم ورکړ.

ګاندي به په اونۍ کې يوه ورځ د سکوت روژه نيوله او دا کار يې د خپلې ذهني آرامۍ لپاره اړين باله. په دې ورځ به يې د ليک له لارې نورو سره اړيکه ساتله.

کله له چې له بريتانيا څخه خپل هېواد ته ستون شو، نو د غربي لباس له اغوستلو يې ډډه وکړه. هغه کالي به يې پر تن کول، چې په هند کې جوړېدل. دا هغه کالي و، چې د هند ټولو غريبو وګړو به پر تن کوله. له غريبو هنديانو سره د برابرۍ لپاره يې دا لاره غوره کړه. ترڅو ساده خو له معنا ډک ژوند وکړي.

نوموړي د انګستان له استعمار څخه د هند د خلاصون هڅې کولې، له همدې امله يې په هند کې په پراخه کچه محبوبيت او درنښت ترلاسه کړ. ددې ترڅنګ نوموړي د بريا، ژوند، خپلواکۍ او مينې په اړه ځانګړی فکر درلود. ددې موضوعاتو په اړه ډېرې په زړه پورې ويناوې يې هم کړي دي.

**د ګاندي کورنۍ**

د ګاندي مور نالوستې وه؛ مګر ډېره مخلصه او عقيدوي مېرمنه وه. له همدې امله يې زوی ترې ډېر اغېزمن و. کله چې يې پلار ومړ، نو مجبور شو انګلستان ته لاړ شي. په لاره کې له يوه ډله خلکو سره مخ شو، چې يوازې يې سبزي خوړله. دی له همدوی متاثر شو او هڅه يې کوله حيواناتو ته زيان و نه رسوي.

د ګاندي مېرمنه "کاستوربا ګاندي" نومېږي. هغه هم د آزادي غوښتونکو ډلې يوه مشره وه، چې د خلکو ترمنځ يې د "ما" يعنې مور په نوم شهرت درلود. دوی دواړو په "۱۸۸۳ز" کال کې واده وکړ. په دې وخت کې عمرونه ۱۳، ۱۴ کاله وو. کاستوربا په "۱۹۰۴م" کال کې سياسي صحنې ته داخله شوه. نوموړې تر څه مودې وروسته ونيول شوه، او په "۱۹۴۴م" کال کې د هند په پونا زندان کې مړه شوه. دوی څلور اولادونه لرل، چې هاريلال، مانيلال، ردماس او دوداس نومېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ګاندي دين**

د نوموړي دين هندو ـ بودايي و. د نوموړي اصول به همېشه ساده وو. چې د هندوانو له سنتي باورونو څخه الهام اخلي. ګاندي پر سانتيا (حقيقت) او آهميسا (نه تاوتريخوالی) کلک باور درلود. دا چې اکثره هندوان غوښه نه خوري، نو ګاندي هم دې عقيدې ته په درنښت قايل و. همدارنګه د دينونو په اړه به نوموړي ويل، چې ټول دينونه سره مساوي دي.

**د ګاندي کتابونه**

ـ دعا يا ستاينه

ـ ټول خلک برابر دي

ـ ولې له مرګه وېره او پرې ژړل؟

**د ګاندي وژل کېدل**

نوموړی په (۱۳۲۶هـ) کال کې د يوه هندو سخت دريځي له خوا ووژل شو. په دې وخت کې يې عمر "۷۹" کاله و. قاتل پر دې باور و، چې له پاکستان سره د هند اړيکو د هندوستان شان او شوکت ته زيان رسولی، نو ځکه يې ګاندي وواژه. بايد ووايو، چې له دې وړاندې هم هندو سخت دريځو د هغه د وژلو هڅې کړې وې.

**د ګاندي ويناوې**

ـ اول ستاسو حق خوري، بيا درپورې خاندي، وروسته درسره جنګېږي، مګر بالاخره تاسو بريالي کېږئ.
ـ انسان د خپل فکر محصول دی، هغه کس ترې جوړېږي چې څه ډول ګومان کوي.
ـ د انسان واقعي ښکلا د هغه شخصيت او سپېڅلتيا ده.
ـ له تواضع پرته خدمت، ځان غوښتنه ده.
ـ د انسان په توګه زموږ لويه وړتيا دا نه ده، چې نړۍ بدله کړو. بلکې دا ده، چې خپل ځان بدل کړو.
ـ که کار کوئ، په مينه يې وکړئ، که نا هيڅ يې مه کوئ.
ـ چرته چې مينه وي، هلته ژوند هم شته.
ـ هره شپه چې ويده کېږم، مرم. هر سهار چې ويښېږم بيا ځلي زېږم.
ـ هغه تغير اوسه، چې غواړې په نړۍ کې يې ووينې.
ـ که غواړئ، په نړۍ کې واقعي سولې ته ورسېږو، پر ماشومانو بايد زده کړې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چیګوارا؛ له طبابت نه تر انقلابه!

د نړۍ په سیاست، ادبیاتو، فلسفې او ګڼو نورو برخو کې داسې پېژندل شوي څېرې تېر شوي، چې د نړۍ نږدې ټول وګړي پرې ویاړ کوي او له نامه سره یې اشنا دي. موږ وپتېيله چې د همدې نوموتو څېرو د پېژندنې لړۍ پیل کړو. تاسو به ددې لړۍ په لومړۍ لیکنه کې نړېواله انقلابي څېره چیګوارا وپېژنئ!

**چیګوارا**

بشپړ نوم یې ارنست چیګوارا "Esneto Che Guevara" دی. نوموړي د "۱۹۲۸ز" کال د جون په څوارلسمه نېټه دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. هغه په یوه اشرافه کورنۍ کې وزېږېد، چې د ارجنټاین په روزاریو کې ستوګنه وه. نیکه یې د جنوبي امریکا د شتمنو کسانو په لومړي قطار کې حسابېده. دا چې د نوموړي کورنۍ په سیاست کې هم ښکېله وه، نو چیګوارا په ډېر کم عمر کې د نړۍ له مختلفو سیاسي افکارو سره بلدتیا پیدا کړه.

د هسپانیې په داخلي جنګونو کې یې پلار د جمهوري غوښتونکو ملاتړی و. هغه به په جګړه کې له زیانمنو سرتېرو سره مرسته کوله او پنا به یې ورکوله. همدا وجه شوه، چې چیګوارا هم له ماشومتوبه بېوزلو سره د مرستې فکر خپل کړي.

نوموړی د ګڼو نورو وړتیاوو ترڅنګ یو پیاوړی ورزشکار هم و. په ګُلف، لامبو، فوټبال او نېزه بازۍ کې یې ښه نوم درلود. همدارنګه له خپل پلار څخه یې د سطرنج لوبه په ښه شکل زده کړې وه او په محلي سیالیو کې به یې ګډون کاوه.

هغه د وخت د نامتو لیکوالو له آثارو سره مینه لرله، چې له جملې یې د پابلو نرودا، ګابریل میسترال، فدریکو ګارسیا لورکا، آلبرکامو، کافکا او ژول‌ورن نومونه یادولای شو.

که څه هم د ناروغۍ له کبله ښوونځي ته نه تللو، خو مور یې په کور کې هغه ته ښه زده کړه ورکوله. بالاخره په "۱۹۴۸ز" کال په بوینوس پوهنتون کې داخل شو. هلته د طب په لوستلو بوخت شو.

ددې لپاره چې له قبایلو او د هغوی له فرهنګ سره سم بلد شي، له پوهنتون څخه یې یو کال رخصتي واخیسته او د لاتینې امریکا بېلابېلو سیمو ته یې سفرونه وکړل. د ارجنټاین شمال ته سفر او د هغه ځای د خلکو غربت او تنګلاسۍ د چیګوارا په فکر کې مطلق تغیر راوست او په هغه کې یې د مبارزې هوډ پیدا او پیاوړی کړ.

چیګوارا به د خلکو د غربت او بدبختۍ اصلي لامل ظالم نظام باله او له دې حالاتو د وتلو یواځینی لاره یې مسلحانه انقلاب باله.

نوموړی په "۱۹۵۳ز" کال کې ګواتیملا ته سفر وکړ. هغه ددې لپاره چې د لاتینې امریکا پر شتمنیو د امریکا متحده ایالاتو استثمار ختم کړي، د ګواتیملا د جمهوري ریاست تر چتر لاندې په ټولنیزو اصلاحاتو کې رغنده رول ولوبوه.

له توري کودتا وروسته چیګوارا د مکزیک مقاومت له نهضت سره یو ځای شو. هلته یې ګڼ نظامي درسونه او تکتیکونه زده کړل. همدا د هغه د نظامي وړتیاوو د څرګندېدو پیل و.

په همدې وخت کې نوموړي ته د "Che" لقب ورکړل شو؛ په ارجینټاینې ژبه کې دا کلمه د "ملګري" معنا لري. وروسته له یوې کمونیستي نظامي ډلې سره یو ځای شو. له څه وخت وروسته له دې کاره ستړی شو. نو بېرته یې د طبابت کار ته مخ وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر په ډېر لنډ وخت کې د آربنز نظام ونړول شو. چیګوارا هم د ارجنټاین سفارت ته پناه یوړه. وروسته له څو هفتو مکسیکو ته ولاړ. هغه پوه شو، چې د امریکا متحده آیالات د یو امپریالیست ځواک په لاس کې ده. دا قدرت هیڅکله داسې هېواد نه شي زغملای، چې په خپلواک ډول پرمختګ وکړي.

کله چې چیګوارا د ګواتیمالا په ټولنیزو اصلاحاتو کې برخه اخیسته د تور سازمان له لورې اړ شو، چې له صحنې ووځي. همدا کار ددې سبب شو، چې نوموړی یوه خاصه سیاسي ایډیالوژي ولري. چیګوارا به د درېیمې نړۍ د وروسته پاتې کېدو علت امپریالېزم، نوی استعمار او د سرمایه دارۍ نظام باله. له دې وروسته والي څخه د وتلو لپاره یې نړېوال انقلاب او انترناسیونالېسم ښې لارې بللې.

د کتابونو نومونه یې "د چریکي جنګونو لارښود" او "د موټرسایکل خاطرې" دي. د لومړي کتاب محتوا جنګي تکتیکونه او د دویم یې لاتینې امریکا ته د سفر درسونه دي.

**چیګوارا او د فیډل کاسټرو ډله**

د "۱۹۵۴م" کال د سیپټمبر په لومړیو کې چیګوارا مکسیکو ته لاړ او هلته د ګواتیمالا له تبعید شوو وګړو سره په اړیکه کې شو. نیکولوپز هم له همدې خلکو څخه و. هغه دا فرصت برابر کړ، چې نوموړی له فیډل کاسټرو سره ووینې.

چیګوارا د فیډل کاسټرو له ډلې څخه ملاتړ وکړ او د دیکتاتوري نظام ننګه یې وکړه. هغه ددې ډلې یو پیاوړی روغتیاپال او چریکي حملو ماهر و.

کله چې په "۱۹۵٦ز" کال کې فیډل کاسټرو له مکسیکو څخه د کیوبا په لورې حرکت وکړ، ترڅو خپل لومړني انقلابي عملیات وکړي، هلته تر حملې لاندې راغی او ډېر نظامیان ووژل شول. په همدې جنګ کې چیګوارا "ډاکټري" یوې خواته کړه او د یوه ټپي سرتېري له اوږو ټوپک واخیست او لکه یو جنګیالی وجنګېد.

د فیډل کاسټرو له لوري نوموړی د یوه لښکر مشر وټاکل شو. په لومړۍ حمله کې د چیګوارا لښکر سم جنګ و نه شو کړای، له همدې کبله نوموړي یو څه سختي پیل کړه. هر کس چې به له لښکر وتښتېد خاین پېژندل کېده او د هغه د پیدا کولو او وژلو هڅه یې کوله.

وروسته پر کیوبا حملو د وخت ولسمشر باتیستا تېښتې ته اړ کړ. نوموړي په **۱۹۵۹** کال کې کیوبا پرېښود او په دې توګه د کیوبا د اوسني نظام بنسټ کېښودل شو.

چیګوارا په کې د صنایعو وزیر او د مرکزي بانک د سفیر او رئیس په توګه وټاکل شو. په "۱۹٦۲م" کال کې شوروي اتحاد ته د سفر پرمهال د اقتصادي هیئت رئیس و. ورپسې په "۱۹٦۳م" کال د الجزایر په اقتصادي کنفرانس کې د کیوبا په نمایندګۍ ګډون وکړ. په "۱۹٦۴م" کې د تجارت او پرمختیا په کنفرانس کې چې ژنیو کې ترسره کېده ګډون وکړ.

چیګوارا په "۱۹٦۴م" کال کې د کیوبا په استازولۍ د ملګرو ملتونو په عمومي سرمشریزه غونډه کې ګډون وکړ. دا غونډه په نیویارک کې ترسره شوه، چې چیګوارا هم په کې وینا وکړه.

**کورنۍ**

چیګوارا د هیلدا ګادئا او الیدا مارس په نامه مېرمنې درلودې. البته له یوې څخه تر جلا کېدو وروسته یې له بلې سره واده کړی و. اولادونه یې هیلدا، آلیدا، کامیلو، سلیا او ارنستو نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د چیګوارا اعدام او وژل کېدل

تور سازمان د "۱۹۶۷م" کال د اکتوبر پر ۸ نېټه نوموړی ونیوه. ځینې پر دې باور دي، چې دې سازمان غوښتل چیګوارا ژوندی ونیسي او تحقیقات ترې وکړي. بالاخره له خپلو څو تنو ملګرو سره ونیول شو او یوه ورځ وروسته اعدام/ووژل شو. له مرګ څه وروسته نوموړی په جنګي فنونو کې د یوه متخصص او د انقلابي سوسیالیستي ډلو د یوه اتل په توګه وپېژندل شو.

چیګوارا هغو سربازانو چې نوموړی یې واژه، وویل: "حواس مو ټول کړئ، سمه نښه ونیسئ، ځکه چې تاسو یو نر وژنئ!"

وروسته له مرګه یې د هغه د دفن ځای په اړه هېڅوک نه پوهېدل. تر دې چې د هغه د وژونکو له ډلې یوه تن د چیګوارا د قبر په اړه معلومات ورکړل. په "۱۹۷۷م" کال کې د نوموړي د جسد پاتې شوني، کیوبا ته انتقال شول. په یاد یې د نوموړي قبر جوړ شو.

### د چګوارا ویناوې

ـ زه آزادي بخښونکی نه یم. ازادي بخښونکي نشته. خلک دي چې خپلواکي ترلاسه کوي.
ـ که انقلاب رښتونی وي، انسان یا ګټونکی دی یا وژل کېږي.
ـ زموږ او د ټولې امریکا دښمن د متحده ایالاتو انحصار غوښتونکی دولت دی.
ـ هغه مرغۍ چې له ځروي* وېرېږي، له لوړې مري. څوک وېرېږئ؟
ـ زما اختر هغه ورځ دی، چې د بزګر د ټول کال خواري د باچا یوه شپه نه وي.
ـ که د بې عدالتۍ په لیدلو له خفګانه رېږدې، نو زما له ملګرو څخه یې.
ـ چریکي جنګیالی د خلکو بشپړې ملګرتیا ته اړ دی.
ـ که غواړو نړېوالې سولې ته ورسېږو، باید سوله ئیزه همکاري یوازې ځواکمنو هېوادونو پورې محدود نه وي.

...ــــ

*ـ ځروی: په پټیو کې چې د مرغیو د وېرولو لپاره ډانچه درول کېږي هغه ته پښتو کې ځروی وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد علي کلي څوک و؟

د نړۍ په تاریخ کې داسې څېرې هم شته، چې د بېلابېلو عواملو له کبله په نړېواله کچه محبوبیت پیدا کوي. یو له دې څېرو محمد علي دی. تاسو به د "څېرې" لړۍ په دې لیکنه کې محمد علي کِلي په پوره توګه وپېژنئ!

**د ماشومتوب ژوند**

د نوموړي اصلي نوم کاسیوس مارسلوس کلی دی. د ۱۹۴۲ز کال د جنورۍ په اوولسمه د امریکا متحده ایالاتو په یو لوی ښار (لویي ویل) کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې؛ پلار یې تابلوګانې جوړولې. کله چې کاسیوس دولس کلن و، پولیسو ته یې خبر ورکړ، چې بایسکل یې غلا شوی. که غل پیدا کړي، نو ښه سبق به ورکړي.

پولیس چې جومارتین نومېده، په یوه کوچني ورزشي کلب کې یې ماشومانو ته بوسکینګ ورزده کاوه؛ کاسیوس ته یې وویل، که غواړې له غلو سره مبارزه وکړې، نو لومړی باید سوک وهنه زده کړې.

له همدې ځایه نوموړي په دې برخه کې زده کړې پیل کړې؛ مارتین لیدل چې ۱۲ کلن ماشوم څنګه په چټکۍ سره پرمختګ کوي. که څه هم په زده کړو کې تکړه نه و، خو په سوک وهنه کې ېبساري وړتیا د ښوونځي مسولین اغېرمن کړل او نوموړی یې فارغ وباله.

**د محمد علي ورزشي ژوند**

ـ د "۱۹۶۰م" کال په المپیک کې یې د بوکس په برخه کې د سروزرو مډال ترلاسه کړ.

ـ د "۱۹۶۰م" کال د اکتوبر په ۲۹ نېټه، پخپله لومړنۍ مسلکي لوبه کې په شپږم راونډ کې تونی هونساکر ته ماتې ورکړې.

ـ له ۱۹۶۰م څخه تر ۱۹۶۳م کال پورې یې په پنځلس سختو لوبو کې خپل سیالان مات کړل. په دې سیالیو کې یې له داسې کسانو څخه بریا ترلاسه کړه، چې د وخت پېژندل شوي او نامتو لوبغاړي و. له دې ډلې یې د اسپرتي، جیم رابینسون، داني فلیمن، داک سابدانګ، آلونزو جانسون، جورج لوګان، ویلی بسمانف او لامار کلارک نومونو یادولای شو.

ـ نوموړي د وخت داسې نامتو سیالان هم مات کړل، چې پخپل ورزشي ژوند کې یې تر ۲۰۰ پورې بریاوې یې لرلې. له دې ډلې یې د سانې بنکس، آلخاندرو لاورانته او آرچي مور نومونه د یادولو دي.

**د محمد علي شخصي ژوند**

نوموړي پخپل ۷۴ کلن ژوند کې له څلورو مېرمنو سره واده وکړ. ۹ اولادونه یې لرل، چې اووه یې نجونې او دوه یې هلکان وو.

یو له هغو لاملونو چې محمد علی ته یې ډېر شهرت ورکړ، هغه د اسلام پر مبارک دین مشرف کېدل و. په "۱۹۶۲م" کال کې له مسلمان سیاستوال الیجا محمد سره تر معرفت وروسته د اسلام مبارک دین ومانه. کله چې مسلمان شو، خپل نوم یې "محمد" او تخلص یې "علي" وټاکه. همدارنګه اعلان یې وکړ، چې په ژوند یو له مهمو واقعاتو څخه، همدا د نوم بدلول و.

په ۱۹۶۶م کال کې د ویتنام پر وړاندې د جنګ په موخه امریکایي پوځ سره له یو ځای کېدو سره مخالف وښود. اعلان یې وکړ، چې "نه غواړې خپل همنوعه ووژني." دا خبره ددې سبب شوه، چې تر پنځو کلونو له سیالیو محروم شي. خو وروسته له یوې وختې دا موده دریو کالو ته کمه شوه. همدارنګه محکمې په پنځه کاله بند محکوم کړ، مګر هغه د یو اندازه پیسو په ضمانت سره زندان ته و نه لېږل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ژوند او لوبې سره خدای په اماني**

بالاخره محمدعلي له شپږپنځوس برياوو، ۳۷ ناک اوټ او ۵ ماتو سره د ۱۹۷۹م کال د جون په اوويشتمه نېټه د ورزش له نړۍ سره خدای په اماني وکړه. همدارنګه د ۲۰۱٦ م کال د جون په درېيمه نېټه يې له دې نړۍ سترګې پټې کړې. د نوموړي د خاورو سپارلو په مراسمو کې د نړۍ د ډېرو هېوادونو مشرانو هم ګډون کړی و.

**د بيوګرافی (ژوندليک) لنډيز**

نوم: محمد علي (Muhammad Ali)، وړاندې له اسلام څخه يې نوم کاسيوس مارسلوس کِلي (Cassius Marcellus Clay) و.

د زوکړې نېټه: د "۱۹۴۲ز" کال د جنورۍ اوولسمه نېټه

د اوسېدو ځای: ميشيګان، امريکا

مليت: امريکايي

د ورزش څانګه: سوک وهنه (Boxing)

د فعاليت کلونه: له ۱۹٦۰م څخه تر ۱۹۸۱م پورې

دين: اسلام

مېرمنې: سونجي روی (۱۹٦۴م- ۱۹٦٦م)، بلیندا بوید "خليله" (۱۹٦۷م - ۱۹۷۷م)، ورونيکا پورش (۱۹۸٦م ـ ؟) او يولاندا (۱۹۸٦م ـ ۲۰۱٦م)

اولادونه: اووه لوڼې، هره يوه "ليلا علي، مريم، جميله، راشده، هانا، ميا او خليله"، دوه زامن "محمد علي جونيور او اسد امين"

د مړينې ځای: سکاتزډيل، اريزونا، د امريکا متحده آيالات

د مړينې نېټه: د "۲۰۱٦م" کال د جون درېيمه

عمر: ۷۴ کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فیډل کاسترو؛ د کیوبا انقلابي څېره

د نړۍ په ګوټ ـ ګوټ کې داسې نومیالي اشخاص تېر شوي، چې خپلې ټولنې او ولس ته د بې ساري خدمت له کبله ټولې نړۍ پېژندلي دي. ددې اشخاصو له ډلې یو هم فیډل کاسترو دی. د "څېرې" لړۍ په دې لیکنه کې به تاسو ددې انقلابي شخصیت د ژوند په بېلابېلو اړخونو پوه شئ.

**پېژندنه**

د کاسترو بشپړ نوم "فیډِل آلخاندرو کاسترو روث" دی. نوموړی په "۱۹۲۶زیږدیز" کال، د کیوبا په بیران ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. کورنۍ یې اصلا له هسپانیې څخه د ښه ژوند په موخه کیوبا ته کډواله شوې وه. پلار یې کاروباي انسان و، نو ځکه خو یې مالي وضعیت ښه و.

کاسترو خندانه څېره درلوده، خوش طبیعته او ټوکي انسان و. د نوموړي مرګ ځینې شنونکي د یو دیکتاتوریک فکر د ختمېدو په معنا تعبیروي او ځینې نور بیا د یو انقلابي او حق غوښتونکي شخصیت د له منځه تللو په معنا بولي.

**زدکړې**

لومړنۍ زده کړې یې په کاتولیکي ښوونځیو کې ترسره کړې. وروسته د کیوبا سانتیاګو ته ولاړ او هلته یې په خصوصي توګه خپلې زده کړې بشپړې کړې. له ښوونځي وروسته د نورو زده کړو لپاره هاوانا ته لاړ او هلته یې د حقوقو په برخه کې زده کړې وکړې.

**سیاسي فعالیتونه**

کاسترو د خپل تحصیلي ژوند په جریان کې په "۱۹۴۸ز" کال کې په یو سیاسي شخص بدل شو. په سیاسي ژوند کې یې تر ټولو اغېزناکه برخه د امریکا ضد افکار درلودل وو. په ۱۹۵۱م کې د خپل حزب له لوري انتخاباتو ته کاندید شو، خو جنرال فولجنیکو باتیستا د یوې کودتا په ترځ کې واک ترلاسه کړ. په همدې وخت کې د باتیستا د دیکتاتورۍ پر وړاندې ګڼې سیاسي ډلې یو ځای شوې، چې د فیډل ډلې هم بارزه برخه پکې لرله. په دې لړ کې فیډل او نور ملګري یې د حکومت ضد اقداماتو په تور ونیول شول، که څه هم نوموړي ډېره هڅه وکړه، چې ثابته کړي هلې ځلې یې د دیموکراسۍ د تطبیق لپاره وې، خو بیا هم محکمې کاسترو مجرم وپېژنده او په پنځلس کاله بند محکوم او مکسیکو ته تبعید شو.

دوه کاله وروسته چې باتیستا له خپل قدرت څخه ډاډمن و، عمومي عفو (بخښنه) اعلان کړه. په همدې وخت کې کاسترو هم له بندخونې آزاد شو. له خلاصون سمدستي وروسته یې بیا پر سیاسي فعالیتونو لاس پورې کړ. د خپل ورور او د ارجینټاین انقلابي شخصیت "چه ګوارا" په مرسته یې ډېر ژر قوي ډله برابره کړه. بالاخره یې په "۱۹۵۹م" کال کې د چیریکي قواوو په مرسته د فلوخنسیو باتیستا حکومت ړنګ کړ او د هېواد واګې یې ترلاسه کړې.

**د امریکا له سیاست سره یې اختلاف**

کله چې کاسترو په کیوبا کې واک ترلاسه کړ. نو په جنوبي امریکا او کیوبا کې یې د امریکا له سیاست سره مخالفت خپل مسولیت وګاڼه.

امریکا په کیوبا کې خپلې ګټې په خطر کې ولیدې نو هڅه یې وکړه، چې د تور سازمان (د امریکا اطلاعاتي مرکز) له لارې د یوې توطیې په ترځ کې فیډل ووژني. مګر امریکایان بریالي نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له ډېرو لوړو ژورو په ۲۰۰۶ م کال کې واک په موقت ډول خپل ورور "رائول کاسترو" ته انتقال کړ. البته ددې کار لامل د فیډل په لویو کولمو کې ترسره شوی عملیات و. کاسټرو له ۴۹ کلنې واکمنۍ وروسته په ۲۰۰۸م کال کې ټول صلاحیت او واک خپل ۷۶ کلن ورور رائول کاسټرو ته ورکړ. له دې وخته څو کاله وروسته، "۲۰۱٦م" کال د نومبر په ۲٦ نېټه د نوي کلونو په عمر ومړ.

**د فیډل کاسټرو ویناوې**

- ـ ما له "۸۲" کسانو سره انقلاب پیل کړ. که بیا اړتیا شوه، نو له ۱۰ یا ۱۵ تنو با باوري سره یې شروع کوم. که باور او عملي نقشه ولرئ نو هیڅ ناممکن نه دی.
- ـ انقلاب د تېر او راتلونکي لپاره یوه مرګونې مبارزه ده.
- ـ هیڅ غل، خاین او په چارو کې لاس وهونکی په کار نه راځی.
- ـ د بشر د ژغورنې لپاره باید لاس په کار شو، غوره نړۍ جوړول شونې ده.
- ـ هر هېواد باید بشپړه خپلواکي ولري، ترڅو مناسب اقتادي، سیاسي او ټولنیز سیستم وضعه کړي.
- ـ ما تل د حقیقت او عدالت لپاره مبارزه کړې ده.
- ـ زه فیډل کاسټرو یم او د کیوبا د ازادۍ لپاره راغلی یم.
- ـ زه سرمایه داري نظام ختموم. ځکه چې مردار، خراب او پردی دی. ځکه چې د جنګ او ریا سبب کېږي.
- ـ زه تاسو ته ډاډ درکوم، چې هېواد به تل زما لومړیتوب وي.

د څېرې لړۍ په بله لیکنه کې د چا په اړه پوهېدل غواړئ؟ خپل نظر مو په کمینټ کې پرېږدئ ترڅو موږ یې په اړه لیکنه خپره کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هاینریش هاینه وپېژنئ!

په نړۍ کې ډېر شمېر شاعران تېر شوي او لا هم دا لړۍ روانه ده؛ مګر د ګوتو په شمار شاعران او لیکوال پر نړیوال دریځ ځان ځرګندوی. یو له دې نوموتو شاعرانو څخه د المان ستر شاعر "هاینریش هاینه" دی. تاسو به په دې لیکنه کې د نوموړي په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړئ.

**هاینه څوک و؟**

د المان هېواد ددې ستر شاعر بشپړ نوم هاینریش هاینه "Heirich Heine" دی. نوموړی په "۱۷۹۷" زیږدیز کال کې د آلمان په "دوسلدورف" ښار کې وزېږېد. مور او پلار یې د شالونو د خرڅلاو کار کاوه، نو ځکه کورنۍ یې بډایه نه وه. په دیني لحاظ یې د کورنۍ غړي یهودیان وو. نوموړی یو ذهین ماشوم و؛ دا چې په کورنۍ کې د څلورو خویندو ترمنځ لومړنی ورور و، نو ځکه نازولی هم و. له ډېرې مینې یې کور کې ورته "هاري" نوماوه.

کله چې یې ښوونځی بشپړ کړ، په "۱۸۱۳" زیږدیز کې یې مور او پلار نوموړی فرانکفورت ته ولېږه، ترڅو هلته صرافي وکړي. په دې وخت کې د هاینه عمر شپاړلس کاله وو. دا عمر د روانپوهنې په لحاظ هغه وخت بلل کېږي، چې انسانان له شتمنۍ او پیسو سره مینه لري؛ مګر هاینه د پیسو پر ځای له زده کړو سره مینه درلوده. له یو څه مهال وروسته یې په فرانکفورت کې زړه تنګ شو او بېرته خپلې سیمې (دوسلدورف) ته ستون شو.

وروسته د خپل مهربانه تره "کاکا" په غوښتنه فرانکفورت ته لاړ. هغه یې د زده کړو مصارف ومنل او په دې توګه هاینه په فرانکفورت کې د حقوقو پوهنځی پیل کړ. مګر له یو کال زده کړو وروسته هلته په درسونو بندیز ولګېد. له یو څه ځنډ وروسته د زده کړو لپاره برلین ته لاړ؛ هلته یې د مېرمن "فان اینسي" هغه دېرې ته لاره وموندله، چې د وخت نامتو پوهانو په کې ناستې او مجلسونه کول. نوموړي هلته ډېر مسایل زده کړل. همدارنګه په برلین کې له لوی فیلسوف "هیګل" څخه هم زده کړې وکړې. وروسته د برلین له پوهنتون څخه "ګیتینګین" پوهنتون ته لاړ؛ هلته یې د حقوقو په برخه کې د دوکتورا سند ترلاسه کړ.

په "۱۸۲۵" زیږدیز کال کې یې خپل دین له یهودیت څخه مسیحیت ته بدل کړ. همدارنګه بېلابېلو سیمو ته یې سفرونه هم ترسره کړل او د وخت له نامتو لیکوالو سره یې لیده کاته کول. د نوموړي مشهور آثار عبارت دي له: "اوسني شعرونه"، آتاترول"، "فرانسوی چارې"، "رومانیک ښوونځی" او "د فلورینتین شپې". هاینه له ګڼو ادبي منډو ترړلو وروسته په "۱۸۴۵م" کې ګوزڼ وواهه. اووه کاله په بستر پرېوت. بالاخره په "۱۸۵٦م" کې د نهه پنځوسو کالو په عمر ومړ. اوس مهال د "دوسلدروف" ښار پوهنتون د "هاینریش هاینه پوهنتون" په نوم نومول شوی دی.

**د شعر بېګله**

زما ترانې ټولې په زهرو لړلي دي
ولې به نه وي لړلې؟
آیا تا زما د زندګی په جام کې زهر توی نه کړل؟
زما ترانې ټولې په زهرو لړلي دي
آیا زه پخپل زړه کې په زرهاوو ماران نه لرم؟
آیا له دغو ټولو مارانو بغیر
ته زما په زړه کې ځای نه لرې؟
ای زما دلداره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د البرټ انشټاین لنډ ژوندلیک!

موږ او تاسو اکثریت د آلبرټ انشټاین له نامه سره آشنا یو؛ نوموړی هغه څوک دی، چې د نسبیت تیوري یې وړاندې کړه. اکثره پوهان انشټاین یو نه تکرارېدونکی نابغه بولي او د نړۍ د یو لوی عالم په سترګه ورته ګوري. د نوموړي ډېری نظریې او څېړنې د علم په پرمختګ او مثبت بدولون کې ګټورې ثابتې شوي دي. باید ووایو چې د پوهې او علم په برخه کې د نوموړي هڅې نه هېرېدونکي دي. په دې لیکنه کې د همدې ستر انسان د ژوند په اړه به لا ډېر پوه شئ.

**انشټاین څوک و؟**

د نوموړي بشپړ نوم "البرټ انشټاین" دی. د "۱۸۷۹ز" کال د مارچ په څوارلسمه، د ورځې یوولس نیمې بجې یې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې. د زېږېدو ځای یې د آلمان اولم ښار دی، چې د اشتوتګارت په سل کیلومیټرۍ کې پروت دی. کورنۍ یې یهودي وه.

د انشټاین پلار د الکترو شیمیایي محصولاتو د تولید کوچنۍ کارخونه درلوده. مور یې پالین کوخ نومېده، چې له هنر او موسیقۍ سره یې ډېره علاقه درلوده.

انشټاین په ماشومتوب کې هېڅ ځیرک نه معلومېده. د خبرو کولو پیل یې هم ډېر وخت ونیوه؛ آن کورنۍ یې ورته اندېښمنه وه.

د خپلې مور په څېر انشټاین هم له موسیقۍ سره ډېره علاقه لرله. د ویولون زده کړه یې آن له پنځه کلنۍ څخه پیل کړه. له دې موسیقۍ سره یې ډېره علاقه درلوده او د عمر تر پایه یې دا مینه وپاللـه.

یو څه موده وروسته نوموړی ایټالیې ته لاړ او هلته یې خپله لومړنۍ علمي مقاله خپره کړه. دا مقاله د نور د حرکت د څرنګوالي په اړه وه. بیا یې د عمر تر پایه شاوخوا درې سوه علمي مقالې خپرې کړې.

د نوموړي سر او کار له علمي موضوعاتو سره و او تل به یې د علمي موضوعاتو په اړه فکر کاوه. په "۱۹۰۰ز" کال کې د سویس هېواد، په زوریخ پولي تخنیک پوهنتون کې د فزیک په برخه کې خپل تحصیل پای ته ورساوه. که څه هم د فزیک په تیوریو کې به یې ښې نمرې ترلاسه کولې؛ مګر د محاسبې او ریاضیاتو برخه به یې کمزورې وه.

د زده کړو په جریان کې یې له میلوا سره وپېژندل، چې بیا یې په "۱۹۰۳م" کال کې له نوموړې سره واده وکړ. له استادو سره ـ سره یې و یې نه شوای کولی، چې په پوهنتون کې د تدریس دنده پیدا کړي، نو ځکه یې غوښتل چې د فزیک په برخه کې د دوکتورا تر کچې زده کړې وکړي، خو په همدې کال د اختراعاتو د معنوي ملکیت د ثبت په اداره کې کار پیل کړ. دوه کاله وروسته یې د نسبیت تیوري وړاندې کړه. ورپسې یې په په مشهور علمي ژورنال کې څلور علمي مقالې خپرې کړې.

څو کاله وروسته (۱۹۰۹م) کې ورته د استادۍ وړاندیز وشو. په لومړیو کې یې دا وړاندیز د کم معاش له کبله رد کړ؛ خو زوریخ پوهنتون ورته د لوړ معاش طرحه تصویب کړه او په دې توګه نوموړي خپله نوې دنده پیل کړه.

د انشټاین څېړنو او نظریو په شپږویشت کلنۍ کې هغه ته ښه نوم ور په برخه کړ.

هغه خپل ټول عمر د علمي نظریو او تحلیلونو په برخه کې تېر کړ او ګڼې مقالې یې ولیکلې. تر اوسه د نوموړي له نظریو څخه په بېلابېلو برخو کې ګټه اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره له ګڼو علمي فعالیتونو وروسته نوموړی په "۱۹۵۵م" کال کې د امریکا متحده ایالاتو په پرنسیټون ښار کې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

**د نسبیت تیورۍ د کشف کیسه**

ددې تیورۍ د کشف په اړه د انشټاین مېرمنه وایي: "نوموړی هغه ورځ هم د نورو ورځو په څېر د سهارنۍ خوړلو په موخه د خوړو کوټې ته راغی؛ مګر هېڅ یې و نه خوړل. ما فکر وکړ، چې ناروغ دی. له همدې امله مې ترې د حالت پوښتنه وکړه. ویې ویل: "ګرانې! ډېر عجیب فکر مې ذهن ته راغلی."

یو ګیلاس قهوه یې وڅښله او د پیانو په غږولو یې پیل وکړ. تکراراً به یې څو شېبې وروسته د پیانو غږول بند کړل؛ څه لیکل به یې وکړل او خپله خبره یې تکراروله، "ډېر عجیبه فکر مې ذهن ته راغلی."

ما ورته وویل: "هیله کوم! ووایه څه خبره ده؟ غواړم پوه شم."

- یو سخت ټکی دی؛ باید په دې برخه کې ډېر کار او فکر وکړم.

بیا یې نیم ساعت نور هم پیانو وغږوله؛ نوټونه (یادښتونه) به یې هم اخیستل. بیا خپل اطاق ته لاړ او ویې ویل چې مزاحمت ورته و نه کړم. مکمل دوه اونۍ یې پخپله کوټه کې تېرې کړې. ډوډۍ او نور خوراک مې هملته وروړل. د شپې لخوا به څو دقیقې د قدم وهلو په پار راووت او بېرته به خپلې خونې ته لاړ. وروسته له دوو هفتو له کارخونې راووت. د ناستې اطاق ته په داسې حال کې رانننوت چې رنګ یې الوتی و. ویې: "دا هغه څه دي، چې زه یې په لټه کې وم."

بیا یې دوه پاڼې د مېز پر سر کېښودې؛ په همدې ورقو کې د نسبیت تیوري لیکل شوې او نقش شوې وه.

**د انشټاین ویناوې**

- هڅه مه کوه، چې بریالی انسان اوسې. هڅه وکړه چې ارزښتمن انسان اوسې.
- له پرونه زده کړئ، نن ژوند وکړئ. سبا ته هیله من اوسئ.
- هر کس چې ډېره مطالعه کوي او له خپل فکر نه کار اخلي، د لټۍ په اړه هېڅ فکر نه کوي.
- زده کړه هغه څه ده، چې په مکتب کې له زده شوو شیانو له هېرولو وروسته هم په ذهن کې پاتې شي.
- د ژوند کولو دوه تګلارې دي، لومړی ژوند کوئ او فکر کوئ هېڅ معجزه نشته. دویم داسې ژوند کوئ، چې فکر کوئ هر څه یوه معجزه ده.
- داسې وخت راځي، چې ذهن له پوهې لوړه مرتبه ځانته ټاکي؛ مګر هېڅکله یې د ترلاسه کولو لاره نه شي موندلای.
- د یو انسان ارزښت باید په هغه څه کې وي، چې تاسو یې ورکوئ نه په هغه څه کې چې هغه یې ترلاسه کوي.
- له پرونه زده کړئ، نن ژوند وکړئ. سبا ته هیله من اوسئ.
- انسانان باید لاس په کار شي؛ که یې هغه څیز پیدا نکړ پخپله دې یې جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویلیام بلیک وپېژنئ!

د نړۍ نامتو لیکوالو په نوملړ کې "ویلیام بلیک" هم د ښه نوم او مقام خاوند دی. نوموړی یوازې لیکوال نه و؛ ښه انځورګر او حکاک هم و. په دې لیکنه کې د نوموړي پېژندنه، ویناوې او د شعر بېلګه ولولئ!

**ویلیام بلیک څوک و؟**

د انګلستان هېواد ددې ستر ادیب او انځورګر بشپړ نوم ویلیام بلیک "William blake" دی. نوموړي په "۱۷۵۷زیږدیز" کال کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې. دی د نړۍ په یو لوی او مشهور ښار (لندن) کې وزېږېد. د مور او پلار په اړه یې ډېر څه نشته، خو خپله یې له یوې نالوستې نجلۍ سره واده کړی و. په ماشومتوب کې یې د ملتن آثار، لاتیني کتابونه، د شکسپیر شعرونه، انجیل او د وخت ورته نور آثار یې لوستي و. رسمي زده کړې یې د انځورګرۍ په برخه کې کړې وې او په همدې برخه کې یې د تدریس چاره پرمخ وړله.

بلیک په ژوند مئین انسان و؛ د نوموړي مېرمنه چې نالوستې وه، وکولای شول د بلیک په مرسته لوست او حکاکي زده کړي.

مشهور آثار یې، "د تل کتاب"، "بیت المقدس"، "د تجربې غزلونه"، "د سپېڅلتیا غزلونه" یې مشهور آثار دي. له ګڼو ادبي او هنري فعالیتونو وروسته د اویا کلونو په عمر ومړ.

**د بلیک ویناوې**

- هڅه وکړه، چې د نېکمرغۍ او خوشحالۍ خبرې زیاتې په خوله راوړې، نه د غم او بدمرغۍ.
- د دښمن بخښل، د دوست تر بخښلو اسانه دي
- که غواړې د ګل له ښکلا او بوی څخه خوند واخلې، باید اغزي یې هم وزغمې.

**د شعر بېلګه**

زه دې وینم، چې رنځور یې سور ګلابه
ژر به ولوېږې، د ژوند له آب او تابه
یو چینجی دی، چې په سترګو نه ښکارېږي
نه په شپه او نه په ورځ کې معلومېږي
خپروي په نیمه شپه کې وزرونه
په توپان کې یې په برخه دي مزلونه
ستا بستر دی، دې ظالم چینجي لیدلی
تر غونچې پورې څو ځله درغلی
ستا پر سر نازکو پاڼو باندې پرېوځي
ستا د زړه ستا د سینې په اوبو کښېوزي
له ښکلا سره دې کړي نامرده مینه
وچوي دې د سینې رنګینه وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د "محمد اشرف غني" لنډ ژوندلیک!

د نړۍ د مطرحو سیاسی او اقتصادي څېرو په نوملړ کې د افغانستان د ولسمشر "محمد اشرف غني" نوم هم د ځانګړي مقام درلودونکی دی. د نړۍ اکثره اقتصادي او سیاسي څېرې ورته د نوموړي پوهې، ذکاوت او طرحو ته په کتو ډېر درنښت او احترام لري. تاسو به په دې لیکنه کې د نوموړي د ژوند، کورنۍ، زده کړو او نورو فعالیتونو په اړه پوه شئ.

**پیدایښت او کورنۍ**

د ولسمشر بشپړ نوم "محمد اشرف غني احمدزی" دی. نوموړي د "۱۳۲۸" لمریز کال د ثور په نهه ویشتمه نېټه د لوګر ولایت په یوه دینداره او روښانفکره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. اوسمهال دوه اولادونه لري، چې یو یې هلک او بله یې نجلۍ ده. لور یې "مریم غني" او زوی یې "طارق غني" نومېږي. همدارنګه د هېواد د لومړۍ مېرمنې نوم "رولا غني" دی. هېره دې نه وي، چې د "حشمت غني" په نوم یو ورور هم لري او د پلار په هکله یې باید ووایو، چې په شاهي دوره کې یې په لوړو دولتي مقامونو کې دندې ترسره کړي دي.

**زدکړې**

ولسمشر خپلې لومړنۍ زده کړې په لوګر ولایت کې ترسره کړي دي. خو د لیسې دوره یې په کابل کې بشپړه کړې او له حبیبیه لیسې څخه فارغ شوی. له فراغت وروسته د لا ډېرو زده کړو په موخه لبنان ته ولاړ. هلته یې د بیروت په امریکایي پوهنتون کې زده کړې وکړې. ویې کولای شول، چې په لوړو نمرو د لیسانس او ماسترۍ سندونه ترلاسه کړي؛ البته نوموړي د خپل لیسانس او ماسترۍ دورې یې د سیاسي علومو په برخه کې بشپړې کړي دي.

په "۱۳۵٦ل" کال کې یې وکولای شول د امریکا متحده ایالاتو تحصیلي بورسیه ترلاسه کړي. په دې توګه یې خپله دویمه ماسترې د نړېوالو اړیکو په برخه کې بشپړه کړه. البته دا دوره یې د کلمبیا په پوهنتون کې تېره کړه. وروسته یې په همدې پوهنتون کې د انسان پېژندنې دوکتورا وکړه. باید یادونه وکړو، چې له خپلې دویمې ماسترۍ او دوکتورا وړاندې (په "۱۳۵۳ل") کال کې د کابل پوهنتون اجتماعي علومو پوهنځي د انسان پېژندنې په څانګه کې د استادۍ مقدسه دنده ترسره کوله.

د "۲۰۰۷ او ۲۰۰۸م" کلونو ترمنځ یې د کاناډا له ګولف او د امریکا له اسکرانتن پوهنتونونو څخه یې افتخاري دوکتوراوې ترلاسه کړي دي. همدرانګه د پاکستان په کراچۍ ښار کې یې د سیرة النبي یو کلنه دروه هم کړې ده.

**نور مهم معلومات**

- د ډنمارک په اورهوس، د امریکا په بریکلي او جانرهاپکنز پوهنتونونو کې یې د استادۍ سپېڅلې دندې ترسره کړي دي.
- د شوروي اتحاد د یرغل په وخت کې یې د کورنۍ اکثره غړي بندیان شول، نو ولسمشر په امریکا کې ژوند غوره کړ.
- په نړېوال بانک کې یې یوولس کاله د ارشد مشاور په توګه دنده ترسره کړې ده.
- شاوخوا پنځه کاله یې په چین، هند او روسیه کې د لویو اقتصادي پروژو د تطبیق په برخه کې اغېزناک کار وکړ.
- په نړېوال بانک کې د خپلې دندې پرمهال د رهبرۍ مختلفې زده کړیزې دورې هم بشپړې کړې دي.
- کله چې د تالبانو نظام ړنګ شو، ولسشمر د افغانستان لپاره د نړېوالې ټولنې د استازي ارشد مشاور وټاکل شو.
- په "۲۰۰۲م" کال کې یې د مالیې وزارت مسولیت په غاړه واخیست. په دې دنده کې ډېر بریالی و او د آسیایي هېوادونو د مالیې وزیرانو په نوملړ کې غوره مقام ترلاسه کړ.
- محمد اشرف غني د اسلام، د ښځو حقوق او اجتماعي عدالت، حکومتولۍ او ګڼو نورو برخو کې سلګونه مقالي او علمي آثار لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مخکيني ولسمشر حامد کرزي به په لويو نړيوالو او ملي مسئلو کې له نوموړي سره هم مشورې کولې او نظرونه به يې اخيستل.
- له خارجي ځواکونو څخه افغان امنيتي ځواکونو ته د مسوليت د انتقال پروسه يې په بريالۍ توګه بشپړه کړه.
- په "۲۰۰٦م" کال کې د نړيوالې ټولنې مشرۍ ته کانديد شو. د نوموړي په اړه کارلوس پسکوال داسې نظر ورکړی و:"د غني وړتيا، عقل او ځانګړی ظرفيت ددې سبب کېږي، چې له کوفي عنان وروسته دې د نړيوالې ټولنې مشر شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تولستوی لنډ ژوندلیک

د ادبیاتو په نړۍ کې ډېر کم خلک پر دې توانېږي، چې په نړېواله کچه وپېژندل شي. دا ځکه چې د ادب لمن خورا پراخه ده او ګڼ شمېر خلک پکې د خپل قلم زور ازمایي. مګر نړۍ یوازې هغه کسان پېژني چې فکر یې پر یو قوم او محدودې جغرافیې پورې نه وي تړل شوی.

کله چې د یو لیکوال فکر د ټولې نړۍ د خیر ښیګڼې او پرمختګ لپاره نظریې ورکوي، په نړېواله سطحه مطرح کېږي. له دې ډلې یو هم تولستوی دی. تاسو به په دې لیکنه کې د نوموړي په اړه هر اړخیز معلومات ترلاسه کړئ.

**پېژندنه**

د روسیې ددې ستر مفکر او رومان لیکونکي بشپړ نوم لیف نیکولایویچ تولستوی "Lev Nikolaevich Tolstoy" دی. هغه د "۱۸۲۸" زیږدیز کال د سپټمبر په نهمه د مسکو په "تولا" ښارګوټي کې وزېږېد. دی د خپلې کورنۍ څلورم اولاد و. د کورنۍ په اړه یې د یادونې وړ ده، چې د روسیې له نوموتو او بډایو کورنیو څخه وه. خو د تولستوی تقدیر له هغه څخه والدین ډېر ژر واخیستل. دی لا دوه کلن و، چې مور یې مړه شوه. همدارنګه په نهه کلنۍ کې د خپل پلار له سیوري محروم شو. د کورنۍ له شرایطو سره سم یې له بهرنیو ښوونکو ته زده کړې وکړې. د هغه وخت بډایه کورنیو خپل ماشومان پر بهرنیو روزل. دا ښوونکي به اکثراً فرانسویان وو.

تولستوی لوړې زده کړې د کازان پوهنتون د ختیځو ادبیاتو په څانګه کې شروع کړې وې. خو و نه توانېد د تاریخ په مضمون کې د کامیابۍ نمرې ترلاسه کړي. هغه ته د مضمون بیا لوستلو سپارښتنه وشوه؛ مګر تولستوی بېخي خپل مسلک بدل کړ او حقوق یې پیل کړ. خو هلته هم په "تاریخ" کې کامیاب نه شو. هماغه و، چې بوهنتون یې پرېښود.

له دې پېښې وروسته تولستوی خپلې پلارنۍ ټاټوبي ته مخه کړه او همهلته دېره شو. هلته د "ژان ژاک روسو" ګڼ آثار په پوره دقت ولوستل. هماغه و، چې د یو قوي لیکوال په توګه څرګند شو. تر ټولو مشهور آثار یې "سوله او جګړه" او "اناکارنینا" نومېږي. د خوښې ځای دی، چې دا دواړه آثار یې پښتو ژبې ته هم ژباړل شوي دي. تولستوی د ژوند په وروستیو کې له شتمنۍ، کور او کلي سره اړیکې پرې کړې. په همدې توګه یوه ورځ بالکل ورک شو. له څه مودې ترې تم کېدو وروسته د "۱۹۱۰ز" کال د نومبر میاشتې پر نهمه نېټه جسد وموندل شو. په دې توګه د یو ستر لیکوال د قلم توري د تل لپاره خاموش شول.

**د تولستوی ویناوې**

- تر ټولو بد او خطرناک الفاظ دا دي، چې وایو/فکر کوو "ټول همداسې دي..."
- که ټولې جګړې د عقیدې لپاره وای، اصلا به جنګ نه کېدای.
- وختونه تېرېږي؛ خو ویل شوې خبرې پاتې کېږي.
- دا ادعا پوچ او ناسم خیال دی، چې حکومت د خلکو استازیتوب کوي.
- د هېچا زړه مه خفه کوه، ځکه ته هم زړه لرې.
- خدایه! ما د ډېرې په څېره ویره کړه او د غنم په څېر مې پاڅوه.
- که غواړې پر نړۍ حاکم شې، نو عقل دې پر ځان حاکم کړه.
- ښایست مینه نه زېږوي بلکې مینه ښایست زېږوي.
- نېکي ټول شیان په ګونډو کوي، خو پخپله ماته نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منټو لنډ ژوندليک

ځينې ليکوال د يو ځانګړي سبک، خاصيت او تګلارې پر مټ ډېر ستر نوم او شهرت پيدا کوي. د منټو د قلم تېره او بېباکه څوکه ددې سبب شوه، چې نوموړی ډېر خلک وپېژني. هغه تل حقايق ويل. که څه هم ځينې وخت دا مسئله ورته جنجالي کېده؛ خو د هغه همدا تګلاره وه، چې حقيقت ووايي، که هرڅومره ترېخ هم وي. تاسو به ددې ليکنې تر پايه د "منټو" د ژوند او هنر په اړه لا ډېر پوه شئ.

**پېژندنه**

ددې ستر ليکوال بشپړ نوم "سعادت حسن منټو" دی؛ خو ډېر خلک يې د "منټو" په نوم پېژني. نوموړی يوازې يو ليکوال نه و، بلکې د اردو ژبې يو ښه سناريو ليکونکی، ژباړن او ژورناليست هم و. منټو د "۱۹۱۲ز" کال د می پر يوولسمه نېټه د هندوستان په پنجاب کې وزېږېد. البته دا هغه وخت و، چې هند لا نه و وېشل شوی. همدارنګه دا هم بايد هېره نه کړو، چې نوموړی اصلاً د کشمير و.

د زده کړو او ماشومتوب په اړه يې استاد حقپرست ليکي: "منټو له وړوکوالي په کور کې يو ترهېدلی ماشوم و، چې د مېرنيو وروڼو، خوېندو او پلار د سنغ چلن له امله يې ځای نه شوای ښکاره کولی. له ماشومتوبه يې لا په زدکړو کې زړه نه لګېده. د لسم ټولګي په ازموينه کې له درې ځله ناکامېدو وروسته په ۱۹۳۱ م کال کې په دې ازموينه کې بريالی شو. په لوړو زده کړو کې يې هم دوه کالجونه بدل، رابدل کړل او وروسته يې انساني ارواپوهنه خپله موضوع وټاکله."

کله چې هند ووېشل شو او د انګرېزانو لخوا پاکستان رامنځته شو، نو منټو هم پاکستان ته راغی. هغه په هند کې هم ليکوالي کوله او پاکستان کې يې هم خپل قلم روان وساته. د نه هېرېدونکو ادبي آثارو له پنځولو وروسته دې ستر ليکوال د "۱۹۵۵ز" کال د جنورۍ په اتلسمه نېټه له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

**د ليکوالۍ طرز**

لکه څنګه چې مو وړاندې يادونه وکړه "منټو" يو بېباکه ليکوال و. له دې کبله چې نوموړي پخپلو ليکنو کې د ښځينه او نارينه "اندام مخصوصه" نومونه په ډېر عادي شکل بيانول نو د رواني ناروغ، فحش ليکوال او ... نورو نومونو ونومول شو. د فحش ليکنې په تور خو آن تر محکمې هم ورسېد.

خو اصلي خبره دا وه، چې منټو په داسې يوه ټولنه کې اوسېدلی و، چې شخړې، اخلاقي کمزورۍ، جنسي کاروبارونه او نورې ناخوالې پکې په اوج کې وې. دې ټولو چارو د "منټو" په فکر او قلم ژور اغېز کړی و.

يوه خبره بله چې منټو له نورو جلا کوي هغه د نوموړي د سوژو ټاکنه او د ټيټې طبقې د خلکو نمايندګي وه. هغه پخپلو ليکنو کې آن د "ځان پلورونکو" مېرمنو حال هم بيان کړی. دا چاره د هر انسان او ليکوال د وسې خبره نه ده. منټو ددې بدلمنو مېرمنو مجبورۍ، د ژوند ناخوالې، ستونزې او کړاونه ټول يو په يو بيان کړي دي. همدارنګه يې د محکومې او بېوزله طبقې مړې هيلې، بې وسۍ او خوارۍ ټولې انځور کړې دي.

په دې اړه منتشر شاهي وايي :"منټو په خپل ټول ژوند کې يې بې له کومې تمې ددوی غږ پورته کړی دی او ددوی په سر يې د حاکمې طبقې له لوري محکې، جرمانې او زندانونه ګاللي دي."

په هر حال د منټو پر ژوند او فن خبرې په يوه ليکنه کې نه شي ځايېدای. ځايېدل څه چې ۱۰ سلنه خبرې يې هم نه شو بللای. که منټو ډېر پېژندل غواړئ نو آثار يې ولولئ. له نېکه مرغه ځينې پنځونې يې له اردو ژبې پښتو ته هم ژباړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د منټو ځينې خبرې**

له منټو څخه پوښتنه وشوه، چې په هېواد کې مو څه حال دی؟

منټو ځواب ورکړ: "داسې حال دی، لکه په زندان کې چې د جمعې لمونځ کېږي اذان دوکه باز کوي، امام يې قاتل وي او مقتديان يې ټول غله وي."

"خلک وايي چې ښځې راز نه شي ساتلای. خو زه وايم که ښځې راز ووايي د نړۍ هېڅ نارينه به د مخ ښکاره کولو وړ نه وي."

"که تاسو دغه افسانې نه شئ زغملای، نو ددې معنا دا ده، چې تاسې زمانه نه شئ زغملای. زه به د هغه تهذيب، تمدن او ټولنې څه لمن پر سر واړوم، چې هغه لا له وړاندې بربنډه ده."

"دا مه وايه چې يو لک هندوان او يو لک مسلمانان وژل شوي دي. داسې ووايه چې دوه لکه انسانان وژل شوي دي."

"که تاسو زما ليکنو له شهواني اړخه ګورئ، ذهني معذوره يئ."

"که د بې حيايۍ په اورېدو مو ښځه ذهن ته راشي نو پخپل ګرېوان کې سر ښکته کړئ."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چاپلین لنډ ژوندلینک

په سینمایي نړۍ کې چې کله هم د کومیډیکو (خندوونکو) فلمونو او ویډیوګانو خبره کېږي؛ نو ورسره سم د "چاپلین" نوم هم اخیستل کېږي. نوموړی د نړۍ نامتو کومیډین (ټوکمار) و. که څه هم چاپلین په یوې بېوزلې کورنۍ کې پیدا شوی و؛ خو د خپل پیاوړي استعداد او زحمت پر مټ یې وکولای شول چې ټوله نړۍ یې وپېژني او ځان ته یو آسوده ژوند برابر کړي. په دې لیکنه کې یې په اړه هر اړخیز معلومات لولستلای شئ.

**لنډ ژوندلیک**

په سینمایي نړۍ کې د کومیډۍ د برخې ددې نوموتي شخصیت بشپړ نوم چارلي چاپلین "Charles Chaplin" دی. هغه د "۱۸۸۹ز" کال د اپرېل په شپاړلسمه نېټه د انګلستان په "والورس" کې وزېږېد.

مور به یې په قهوه خانو کې سندرې ویلې او په دې توګه به یې د خپل ژوند مصارف پوره کول. پلار یې هم هنرمند و او په تمثیلي پارچو کې به یې رول لوباوه؛ خو د والدینو ژوند یې خوږ نه و. ځکه چې د چاپلین پلار به ډېر شراب څښل او تل به نشه و. له همدې امله، کله چې چاپلین یو کلن و، مور او پلار یې سره جلا شول.

چاپلین یو مشر ورور هم درلود، چې "سیدني" نومېده؛ خو دا یې ناسکه ورور و. په دې معنا چې د چاپلین مور وړاندې له یو بل کس سره واده کړی و، سیدني د هماغه اولاد و. په هر حال کله چې سیدني یو کلن و مور و پلار یې سره بېل شول. په دې توګه د چاپلین مور ته د دوو اولادونو روزنه او پالنه ور تر غاړې شوه.

په لومړیو کې د چاپلین مور کولای شول د ژوند مصارف پوره کړي؛ خو د وخت په تېرېدو یې اواز خرابېده او ورو ـ ورو له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ شوه. په داسې حال کې چې د چاپلین پلار د خپل اولاد د نفقې لپاره مرسته هم نه کوله. د چاپلین مور اړه شوه، چې پر خپل طلاق شوي خاوند عریضه وکړي؛ مګر دا دعوه یې هم وبایلله.

پر له پسې سختو بېوزلیو ددوی ژوند ډېر تریخ کړ. له همدې امله چاپلین اړ شو، چې په پنځه کلنۍ کې کار پیل کړي. هغه په هنري ډګر کې د خپل کار د پیل په اړه وایي: "یوه ورځ چې زه به پنځه کلن وم، مور مې په صحنه کې سندرې ویلې، دا چې غږ یې خراب شوی و؛ ټولو پرې وخندل. خو مدیر چې مخکې یې زه په ترنم لیدلی وم، دریځ ته ولېږلم. ما چې سندره وویله ټولو خلکو خوښه کړه او ډېرې پیسې یې راباندې وشیندلې. همدا شپه زما د مور د هنر د پای او زما د پیل شپه شوه."

**د ژوند ناخوالې**

- کله چې د چاپلین پر کورنۍ سخته غریبي راغله، مور یې له خپلو جامو چاپلین او سیدني ته کالي جوړ کړل. دا چې کالي یې د ښځینه وو و، نو ټولو ګاونډیانو به پرې خندل.
- د ډېر غربت له وجې د غریبو خلکو روزنتون ته واستول شول، تر څو هلته یې پالنه وشي. خو دلته هم ډېره موده نه وو؛ بیا یتیم خانې ته ولېږل شول.
- څه موده وروسته یې پر مور عصبي چیچې راغلې او لېونۍ شوه. له همدې امله چاپلین پلار ته وسپارل شو؛ پلار یې له بلې مېرمنې سره واده کړی و. هغې به له چاپلین سره هېڅ ښه سلوک نه کاوه.
- له څه وخت وروسته مور یې له درملنې وروسته ښه شوې وه. خیاطي یې کوله. چاپلین اضافه ټوټې پلورلې، چې خلکو به پرې رشخند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ډېرې بې وزلۍ له امله چاپلين ښوونځي پرېښود او په بېلابېلو ځايونو کې به يې مزدوري کوله. صفاکاري، ورځپاڼې پلورل او ... نورو ډېرو ځايونو کې يې کار وکړ.

خو له دې ټولو ناخوالو سره ـ سره هغه د ژوند ستونزو ته تسليم نه شو. پر له پسې هڅه يې کوله او د تياتر نړۍ ته يې مخه کړه. ډېر ژر د خلکو پام ور واوښت او ټولې نړۍ وپېژنده. په دې توګه يې د ډېرې کارنامې پخپل نوم ثبت کړې.

- په "۱۹۲۹"، "۱۹۴۱"، "۱۹۴۸" او "۱۹۷۳ز" کلونو کې په بېلابېلو برخو کې د "اسکار" جايزې وګټلې.
- په "۱۹۵۳ز" کال کې يې د فرانسې د سندرو جوړوونکو او ليکوالو ټولنې افتخاري غړيتوب ورکړ. په همدې کال د فرانسې دولت لخوا يې د "لژيون دونورو" لقب هم ترلاسه کړ.
- په "۱۹۷۲ز" کې يې د طلايي زمري افتخاري مډال ترلاسه کړ.
- په "۱۹۷۵ز" کال کې د انګلستان د ملکې لخوا "سر" لقب ورکړل شو.
- دی چې بېوزلۍ او د ژوند سختيو ته تسليم نه شو؛ نو تر "۱۹۷۷ز" کال پورې يې نږدې "۵۰۰" ميليونه ډالره سرمايه پيدا کړې وه.

**د چاپلين خپله کورنۍ**

چاپلين د خپل ژوند په اوږدو کې څلور ځله ودونه وکړل. له دې ټولو ودونو څخه يې نهه اولادونه لرل. په دوی کې پنځه نارينه او څلور نجونې دي. هغه د خپلو اولادونو ډېره ښه روزنه کوله او ټولو ته به يې د ژوند مناسب، مساوي او کافي امکانات برابرول.

**آثار**

چاپلين يوازې يو تمثيل کوونکی نه و؛ بلکې پخپله يې تمثيلونه، نمايشنامې او ... ليکلې. نوموړی د يو ښه سينمايي لوبغاړي ترڅنګ يو ښه ليکوال هم و. ځينې ليکنې او فلمي آثار يې عبارت دي له:

- څلرويشت ساعته شاګرد
- زما د ژوند داستان
- د تنحوا په لټه
- د ښار رڼاوې
- فلمي ناروغی
- تر باران لاندې
- د هغه غل ملګری
- د دوو مورچلونو په منځ کې او...

د تمثيل د نړۍ دا نه تکرارېدونکې شخصيت، له ګڼو لاسته راوړنو وروسته د "۱۹۷۷ز" کال د ډېسمبر په پنځه ويشتمه نېټه ومړ. جسد يې په سويزرلينډ کې خاورو ته وسپارل شو. دا ځکه چې چاپلين د ژوند وروستي کلونه هملته تېر کړي دي. په سويزرلينډ کې يې ښکلی او لوی کور پېرلی و.

**د چاپلين ويناوې**

- ګرانې لورې! هېڅکله هوس مينه مه ګڼه. د خوب په بستره کې يو نارينه هم بد نه وي.
- په يو بل پسې مه خاندئ، له يو بل سره وخاندئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زما تر ټولو ښه ملګرې هنداره ده. ځکه کله چې زه ژاړم هغه نه خاندي.
- واده کول او د ژوند جوړول د بازار په څېر دی. چې پیسې، اړتیا او هوډ نه لرئ مه ورځئ.
- نړۍ له ښو انسانانو ډکه ده. که تا یو هم پیدا نه کړ؛ نو لږ تر لږه پخپله ښه انسان اوسه.
- که زه پېغمبر وای، د خلکو خوښي به مې رسالت او دنده وه. خپلواکي به مې زېری و او د ماشومانو خندول به مې معجزه وه.
- یوه مڼه راولوېده او د جاذبې پر قانونو پوه شو. په میلیونونه جسدونه راولوېدل؛ مګر بشریت د انسانیت په معنا پوه نه شو.
- له دښمنانو مو یو ځل وډار شئ او له دوستانو مو زر ځله.
- پیسې او شتمنۍ شخصیت نه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بالزاک لنډ ژوند لیک

د نړیوالو ادبي څېرو په نوملړ کې "بالزاک" د ځانګړي مقام خاوند. نوموړی په اروپایي ادب کې د ریالېزم ادبي مکتب له مخکښانو څخه شمېرل کېږي. تاسو به په دې لیکنه کې یې پر ژوند او فن پوه شئ.

**بالزاک**

په اروپایي ادبیاتو کې د ریالېزم د بنسټ اېښودونکو له ډلې یو هم بالزاک دی. د نوموړي بشپړ نوم (اونوره دو بالزاک) دی. دی په نړیواله کچه یو پېژندل شوی شخصیت دی. د خپل قلمي قوت اظهار داسې کوي: ((هغه څه چې ناپیلیون د توري پرمټ لاسته راوړل زه یې د قلم پر مټ ترلاسه کوم.))

بالزاک په (۱۷۹۹ز) کال کې د فرانسې په ((تور)) ښارګوټي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. پلار یې د ښار مرستیال ښاروال و. بالزاک له څلور کلنۍ څخه په روزنتونونو کې روزل کېده. ځکه چې د والدینو اړیکې یې پخپلو کې ښې نه وې. د نوموړي مور له پلار څخه یې ۳۲ کاله کشره وه. بالزاک یو څه زده کړې په ښوونځیو کې وکړې، بیا یې په یوه کالج کې دیني زده کړې هم پای ته ورسولې. وروسته یې په فرانسه کې د حقوقو پوهنځی ولوست او نږدې درې کاله یې د وکالت دنده هم پرمخ یوړه. وروسته یې د خپلو والدینو د خوښې خلاف ادبیاتو ته مخه کړه. له ورځپاڼو سره یې دنده واخیسته. په دې توګه دا ستر لیکوال خپل اصلي مسیر ته برابر شو او په نړیواله کچه وپېژندل شو. دده په اړه جالبه دا ده، چې د شپې په یوه بجه به پاڅېده او سپینې جامې به یې پر تن کولې. هغه پر دې باور و، چې د لیکلو پر مهال باید داسې کالي واغوندو چې هېڅ داغ و نه لري. شاوخوا نوي آثار یې لیکلي. ورکې هیلې، ستا د تره لور، باباګوریو، نوم ورکی شهکار او ځینې نور یې مهم آثار دي. له ګڼو ادبي لاسته راوړنو وروسته بالزاک په ((۱۸۵۰ز)) کال کې ومړ. په دې وخت کې یې عمر یوپنځوس کاله و.

**د بالزاک "Balzac"مهمې ویناوې**

- له ښځې پرته کور د هدیرې په څېر دی.
- دا لوږه ده، چې لېوان له ځنګله راوباسي.
- مینه د احساساتو شاعري ده.
- د هرې سترې شتمنۍ تر شا یو پټ جرم وي.
- نابغه هغه څوک دی، چې خپل فکرونه په عمل کې وکاروي.
- انسان له ناهیلۍ مري.
- لوی استعداد له لویې ارادې پرته ناشونی دی.
- هېڅ وخت نه شئ کولای چې د مور تر مینې رښتینې مینه پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# گابریل گارسیا څوک دی!؟

کله چې د نړیوالو ادبیاتو مطالعه پیل کړو، نو حتما د گابریل له نوم سره مخ کېږو. نوموړی په لاتینه امریکا کې زېږدلی او آثار یې نړیوال محبوبیت لري. موږ په دې لیکنه کې هڅه کړې چې نوموړی تر یوه بریده در وپېژنو.

**د مارکېز لنډ ژوندلیک**

ددې ستر لیکوال بشپړ نوم گابریل گارسیا مارکېز "Gabrirel Garcia Marquez" دی. نوموړی د "۱۹۲۷ز" کال د مارچ په شپږمه نېټه د کولمبیا په "اراکاتا" ښار کې زېږېدلی.

ښاغلی مصطفی صفا یې په اړه لیکي: "نړیوال لیکوالان او کره کتونکي د گابریل لیکنو او آثارو ته د کوډگر یا جادویي ریالېزم اصطلاح کاروي. دغه اصطلاح هغو آثارو ته کارول کېږي، چې ریالیستیک تمایلات، خیال، وهم او جادویي عناصر یو بل ته ځای پرېږدي او پخپلو کې سره داسې اوبدل کېږي، چې خورا خیالي پېښې هم پکې طبیعي ښه پیدا کوي."

ددې چارې گڼ عوامل کېدای شي. مگر د مارکېز په آثارو کې یې یو عامل د دېوانو، پیریانو او ارواگانو هغه کیسې هم دي، چې نوموړي له خپلې انا او ابا څخه په ماشومتوب کې اورېدولې وې. دا چې لیکوال خورا تېز ذهن لري، نو مارکېز هم د خپلې ټولنې ناخوالې تجربه کړې او یا یې ولیدلې، بیا یې پخپلو آثارو کې انعکاس ورکړ.

که څه هم مارکېز په بوگاتا پوهنتون کې حقوق لوستي و؛ خو نوموړي له ورځپاڼو سره د ژورنالیست په توگه دنده ترسره کوله، چې له برکته یې گڼ شمېر هېوادونه ولیدل. مگر دا باید هېره نه کړو، چې هغه ته خدای د لیکوالۍ بې ساری استعداد ورکړی و. نوموړي په لومړیو کې لنډې کیسې لیکلې خو وروسته یې بیا ځانگړي آثار هم خپاره کړل. ځینې مهم آثار یې عبارت دي له: بدمرغه ساعت، د پانېې توپان، ډگروال ته لیک نه راځي، د ماشومانو وطن، جنرال په زرو خوشحالیو کې، کله چې زه خوښ وم او ... مگر تر ټول مهم اثر چې دی یې نړۍ ته وروپېژنده "سل کاله یوازېتوب" نومېږي. هېره دې نه وي، چې پر همدې اثر یې د نوبل جایزه هم گټلې ده.

گابریل له گڼو گټورو ادبي او ژورنالیستیکو فعالیتونو وروسته د "۲۰۱۴ز" کال اپریل پر اوولسمه نېټه ومړ.

**د مارکېز ځینې غوره جملې**

- پر حقیقت سترگې پټول، حقیقت نه شي بدلولای.
- ژوند هغه نه دی، چې تېر شوی دی. ژوند هغه دی چې زموږ په یاد پاتې دی.
- رښتینی افسوس او ارمان هغه وخت کوئ، چې پوه شئ د خپل عمر په اندازه مو ژوند نه دی کړی.
- یو شمېر نورو ته دومره وفادار وي، چې له ځان سره خیانت کوي.
- باید وړې پرېکړې په مغزو او لویې په زړه وشي.
- ځینې وخت انسان فکر کوي، چې ماتې یې خوړلې؛ خو اصلا یې ارزښت له بریا ډېر وي.
- هېڅوک هم د اوښکو تویولو ارزښت نه لري او څوک یې چې لري هغه مو د اوښکو تویېدو لامل نه گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کافکا لنډ ژوندلیک!

کله چې د نړۍ د مشهور لیکوالو نومونه اخلو؛ نو پرته له شکه د "کافکا" نوم مو په لومړیو کې ذهن ته راځي. د نړۍ او په ځانګړې توګه د المان دا نامتو لیکوال په پراګ ـ چې په هغه وخت کې د اتریش یو ایالت و ـ وزیږېد. د خپل پلار تونډ خوی او ورسره ترینګلي اړیکې ددې سبب شوې، چې نوموړی ذهنا لویه شکنجه ووینې او د عمر تر پایه ترې وځورېږي. نوموړي پخپل اثر "پلار ته لیک" کې د ژوند پر دې برخې مفصلې خبرې کړې دي او دا یې په ډېر ښه شکل واضح کړې، چې پلار یې د نوموړي خوښۍ څنګه له منځه وړې دي. په هر حال؛ تاسو به په دې لیکنه کې نوموړی لا ښه وپوهېږئ.

**لنډ ژوند لیک**

د الماني لیکوالو ددې سرلاري بشپړ نوم فرانز کافکا (Franz Kafka) دی. نوموړی په "۱۸۸۳ز" کال کې زیږېدلی. پلار یې یو سخت دریځی سوداګر و او له همدې کبله کافکا یو وېرندوکی او ډارن ماشوم و. دی به له خپل پلار څخه ډېر وېرېده. همدارنګه خپلې کورنۍ اشپزې هم خورا وېرولی و. کافکا به ددوی اشپزې تر ښوونځي رساوه او له نوموړي سره یې ډېر بد چلند کاوه. دا ټول هغه علتونه وو، چې کافکا یې ګوښه ګیر کړی و او تل به په وېره کې و. په لنډ ډول ویلای شو، چې خفګان، وېرې او تاوتریخوالي د کافکا د ماشومتوب دوران سخت ځپلی دی. هغه پخپله لیکلي: "اوس هم چې کله د ماشومتوب عکسونه ګورم، د خپل هر انځور په مخ کې هغه وېره او سختي وینم..."

د یادونې وړ ده، چې کافکا د خپلې کورنۍ لومړنی ماشوم و. درې خویندې یې په جګړو کې د کډوالو په کمپونو کې وژل شوې وې او دوه وروڼه یې په ماشومتوب کې مړه شوي وو.

د لوړو زده کړو په برخه کې یې باید ووایو، چې نوموړي د حقوقو په مسلک کې تر دوکتورا زدکړې کړې وې؛ خو د ادبیاتو پراخه مطالعه یې هم درلوده، چې همدې چارې د نوموړې قلمي قوت څو چنده ډېر کړی و.

د لیکوالۍ د سبک په اړه یې استاد مصطفی صفا لیکي: "کافکا د لیکوالۍ یو ځانګړی سبک لري. نوموړی په لیکنه کې خپل کلمات او عبارات د حقوقو او علم له ژبې څخه غوره کوي او پرته له دې چې شخصي احساسات پکې دخالت ولري، یو ډول کنایوي دقت ورکوي."

د کافکا مشهور آثار عبارت دي له: امریکا، مسخه، پلار ته لیک، فتوا، د کلي ډاکتر، د چین دېوال، مانۍ او ... دا چې نوموړي له ځوانۍ څخه د نري رنځ ناروغي درلوده؛ نو ډېر ژوند یې و نه شو کړای او په "۱۹۲۴ز" کال کې د "۴۱" کالو په عمر ومړ.

**ویناوې**

- یو احمق، یو احمق وي. دوه هم دوه؛ خو له لس زره احمقانو څخه یوه سیاسي ډله جوړېږي.
- څوک څه پوهېږي، کېدای شي دا نړۍ د کومې بلې نړۍ جهنم وي.
- خلک تل تیار دي، چې دویم ځلي وغولېږي.
- د ځان او نړۍ په جګړه کې د نړۍ پلوي وکړه.
- ذهن د پراشوټ غوندې دی. ترڅو چې پرانیستل نه شي، کار نه کوي.
- هغه څه چې خلکو ته د منلو وړ دي، مه ترسره کوه! هغه څه ترسره کړه چې سم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قمارباز لیکوال؛ داستایوفسکي

د نړیوالو ادبي څېرو په نوملړ کې "داستایوفسکي" د لوړ مقام خاوند دی. دی لومړنی لیکوال دی، چې په لنډو کیسو کې یې ارواپوهنې ته ځای ورکړ. هغه پر دې باور و، چې د انسان په وجود کې دننه د ښو او بدو انګېزو او محرکوونکو عواملو ترمنځ همېشه یو جنجال موجود وي. نوموړی د ژوند ډېرې نورې عجیبې کیسې هم لري، چې د لیکنې تر پایه به یې په اړه پوه شئ.

**لنډ ژوند لیک**

د روسي ژبې ددې ستر لیکوال بشپړ نوم فیودور میخایلوویچ دستایوفسکي دی، چې په انګلیسي کې یې په دې بڼه " Fyodor Mikhailovich Dostoevsky" لیکلای شو. نوموړی په "۱۸۲۱" زېږدیز کال کې زېږېدلی دی. پلار یې روغتیاپال (ډاکټر) و. کله چې داستایوفسکي د ښوونځي دورې زدکړې بشپړې کړې، د "سن پټرزبورګ" انجینري پوهنتون کې یې زدکړې وکړې او وروسته یې د روسیې په پوځ کې د انجینرۍ دنده پر مخ وړله. په لومړیو کې د پوهنتون سخت قواعد ددې سبب شوي و، چې نوموړی د خپلې خوښې کتابونه مطالعه نه شي کړای؛ خو وروسته یې دا چاره هم ترسره کړه او د خپلې خوښې آثار یې مطالعه کول. د لیکوالۍ پیل یې هم راسا له لیکلو څخه نه و؛ بلکې لومړی یې د ځینو نامتو لیکوالو آثار روسي ژبې ته وژباړل او په همدې توګه یې وروسته لیکوالي هم پیل کړه.

د ژوند عجیب اړخ یې دا دی، چې نوموړی یو قمارباز و او د میرګي ناروغي یې هم لرله. ښاغلی مصطفی صفا یې په اړه وایي، چې له ماشومتوبه یې د میرګیانو ناروغي لرله. همدارنګه په قمار وهلو سخت روږدی و. "تر دې چې د قمارباز په نوم یو عالي رومان یې هم پنځولی. له نېکه مرغه دا کتاب له روسي ژبې څخه پښتو ته راژباړل شوی دی."

د میرګي ناروغۍ په اړه یې هم ځانګړی تصور درلود. ده به د میرګیانو ناروغي هېڅ شرم نه ګڼله او پرې ویاړ یې کاوه. هغه په دې آند و، چې د میرګیانو ناروغي یو خدایي امتیاز او سپېڅلی حالت دی. که څه هم نوموړي د لیکوالۍ له برکته خورا ډېرې پیسې ګټلې؛ خو تل به یې قمار واهه او جېب به یې خالي و.

د ژوند یو بل عجیب داستان یې داسې دی، چې یو ځل پولیسو د نظام ضد فعالیتونو په تور ونیوه او د مرګ سزا واورول شوه. داستایوفسکي په دویم قطار کې د خپل مرګ په انتظار و. کله چې د لومړي قطار ټول محکومین په مرمیو وویشتل شول او ددوی د قطار نوبت راورسېد، خبر راړونکي سپین بیرغ وخوځاوه او د اعدام (وژل کېدلو) د سزا پلي کېدل یې منع اعلان کړ. په دې توګه له مرګ څخه وژغورل شو.

د لیکوالۍ په برخه کې یې لومړنۍ لنډه کیسه خورا وستایل شوه؛ خو وروسته یې خاص استقبال و نه شو. له همدې امله یې د سیاسي ګوند غړیتوب واخیست او سیاسي فعالیتونه به یې کول. مګر کله چې له مرګ څخه وژغورل شو او سزا یې په څلور کاله بند بدله شوه نوموړي د بند په جریان کې سخته فزیکي او ذهني شکنجه ولیدله. کله چې له بنده خلاص شو او محکمې څلور کاله عسکرۍ ته مجبور کړ؛ نو بیا ځلې یې قلم را واخیست او خپل شهکار آثار یې ولیکل.

داستایوفسکي له پام وړ ادبي لاسته راوړنو وروسته په "۱۸۸۱ز" کال کې د شپېتو کالو په عمر ومړ.

**آثار**

داستایوفسکي پخپل ادبي ژوند کې خورا عالي پنځونې وکړې، چې تر ټولو مشهور یې عبارت دي له: بېوزله خلک، قمارباز، رڼې شپې، د کارامازوف ورونه، پیریان وهلي، احمق او ځینې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ویناوې**

- انسان هغه موجود دی، چې له هر څه سره روږدی کېږي او زه فکر کوم دا یې تر ټولو غوره ځانګړنه ده.
- موږ ته باید د ژوند له مفهوم څخه ژوند ډېر ګران وي.
- خواشینی یم، چې د خوښۍ هېڅ درته ویلی نه شم، ځکه چې عملي مینه له خیالي مینې سره د پرتلې په صورت کې خورا عذابوونکې او وحشتناکه ده.
- چا چې د ژوند لاره پیدا نه کړه، هېڅ یې نه دي موندلي.
- جهنم څه شی دی؟ زما په آند له انسانانو، نړۍ او ژوند سره د مینې او لېوالتیا د نه شتون له ناروغۍ څخه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لورکا لنډ ژوندلیک

که د هسپانوي ادبیاتو په اړه غږېږو؛ نو پرته له شکه به تر سروانتس وروسته دویم کس حتما "لورکا" زموږ ذهن ته راځي. نوموړی په یوه شتمنه کورنۍ کې لوی شوی او ښې زدکړې یې کړې دي. د نورو زده کړو ترڅنګ یې له شاعرۍ سره هم علاقه لرله او لوستله به یې، چې وروسته خپله هم د یو ښه شاعر په توګه څرګند شو. موږ په دې لیکنه کې د همدې په اړه غږېږو، چې د لیکنې تر پایه به یې په اړه ډېر پوه شئ.

**ژوندلیک**

د هسپانیې ددې ښه شاعر او ګرافیک انځورګر بشپړ نوم فدریکو ګارسیا لورکا (Federico Garcia Lorca) دی. نوموړی د هسپانیا په "ګرانادا" ولایت کې په "۱۸۹۸زېږدیز" کال ک وزېږېد. کورنۍ یې شتمنه وه؛ نو ځکه خو د ښوونځي له فراغت څخه وروسته ـ چې "۱۶" کلن و ـ د ګرانادا په پوهنتون کې د حقوقو، فلسفې او ادبیاتو په زده کړو بوخت شو. هلته یې د زده کړو تر څنګ د مشهورو شاعرانو شعرونه لوستل او خپله یې هم شاعري پیل کړه.

دی په ځوانۍ کې وژل شوی دی، همدې پېښې دده نوم او شاعرۍ ته محبوبیت ورکړ. لورکا به د رخصتیو پر مهال د هسپاینا بېلابېلو سیمو ته سفرونه کول. ددې سفرونو یادښتونه یې د "خاطرې او انځورونه" نومې کتاب کې خپاره کړل، چې دده لیکنې او رسمونه په کې راغلي وو.

دی "۲۳" کلن و، چې د شعرونو لومړی ټولګه یې چاپ شوه. ده به ویل: "شاعر یوه دنده او یو رسالت لري او هغه ارواییي ځواک او زړه ډالۍ کول دي."

په هسپانیه کې د کورنۍ جګړې لهٔپیل وړاندې له مادرید څخه ګرانادا ته ځي. هلته دده لپاره ګواښ و، دا چې د هسپانیه په جنوب کې ښې لاسي ځواکونه پیاوړي وو. د جنرال فرانکو د فکر پلویانو دی پهٔ "۱۹۳۶م" کال د آګسټ پر "۱۸" نېټه ونیوه، او پر بله ورځ یې د جمهوریتپال په تور، په غرونو کې وواژه او جسد یې هېچا ته په لاس ور نه کړ.

داسې ویل کېږي، چې نوموړي پخپل کتاب "شاعر په نیویارک کې" نومېږي، تر دې پېښې "۶" کاله مخکې د دا ډول مرګ وړاندوینه کړې وه. د یادونې وړ ده، چې تر ټولو مشهور اثر یې "د جټانو رومانسېرو" نومېږي. دې کتاب لورکا ته ښه نوم او شهرت ورکړ.

**شعرونه**

د ونو سیوري

په باد کې چیغې وهي

پرېږدئ په دغه کرونده کې په ژړا شمه زه

په دې نړۍ کې، هر څه په ملا رامات دي

له خاموشۍ پرته، بل هېڅ شی نه پاتېږي

د اسمان تیارې لمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپېدو لارې وژني

پرېږدئ په دغه کرونده کې

په ژړا شمه زۀ.

**یو بل شعر یې داسې دی، چې:**

که زه مړ شوم

د بالکن دروازه خلاصه پرېږدئ

ها کمکی هلته نارنج خوري

د بالکن نه ماته ښکاري

ها کارګر چې فصل رېبي

د بالکن نه ماته ښکاري

نو زما ده وروستی هیله

که زه مړ شوم

د بالکن دروازه خلاصه پرېږدئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د "ګورکي" لنډ ژوندلیک

د روسي ادبیاتو د لومړي قطار په لیکوالو کې د "ګورکي" نوم هم ډېر بارز دی. نوموړی په کوچنیوالي کې یتیم شو او پالنه یې سپین سرې نیا ته ور تر غاړې شوه؛ خو ډېر ژر د غم بلې څپې په مخه کړ او روزونکې یې هم د تل لپاره له دې نړۍ سترګې پټې کړې او ... د نوموړي ژوند او فن تل له خنډونو سره مخ پاتې شوی، چې په دې لیکنه کې یې په اړه پوهېدای شئ.

### ژوندلیک

د روسیې د ریالیستیکو ادبیاتو ددې نومیالي شخصیت بشپړ نوم "الکسي ماکسیمو وېچ پشکوف" دی؛ خو د ادبیاتو په نړۍ کې یې خلک د ماکسیم ګورکي "Maxim Gorky" په نوم پېژني. نوموړی په "۱۸۶۸ز" کال کې د روسیې په "نیژني نوګرد" سیمه کې زېږېدلی. د نوموړي شخصیت ته خلک دومره په درنښت قایل دي، چې اوس یې د زېږېدو ښار د هغه (ګورکي) په نوم نومولی دی.

لکه څنګه چې مو په لومړیو کې یادونه وکړه نوموړی یو تریخ ژوند درلود. داستان یې داسې دی، چې په ماشومتوب کې یې والدین مړه شول، ورپسې یې پالونکې (نیا) هم سترګې پټې کړې او مړه شوه. تر دې چې د روزنې مسولیت یې نیکه ته تر غاړې ووت؛ مګر غریبۍ او د ژوند ستونزو یې لمنه نه پرېښوده. آن ګورکي د ځان وژنې هڅه هم وکړه؛ خو وژغورل شو. ویل کېږي، چې نوموړي په دولس کلنۍ کې په سخت کارونه پیل کړل. بزګري، اسونه څرول، څوکیداري، د خلکو ډوډۍ پخول، جوالیتوب او نور ډېر شاقه کارونه یې په کم عمر کې وکړل.

د ژوند له ډېرو خوږو محرومیت د نوموړي په آثارو کې په خورا څرګند ډول تر سترګو کېږي؛ خو که ووایو، چې د ژوند ټولو ستونزو د هغه مخه و نشوای نیولای؛ نو مبالغه به مو نه وي کړې. هغه ددې ترڅنګ چې په نانوايۍ کې یې کار کاوه، د خپل مالک کتابتون ته یې هم لاسرسی پیدا کړ او ډېری کتابونه یې ولوستل. ویل کېږي، د نانوايۍ خاوند په ګورکي کې ځانګړی استعداد لیده؛ نو ځکه یې ورته اجازه ورکړه چې له کتابونو یې استفاده وکړي او نوموړی یې تعلیم ته ډېر وهڅاوه.

وروسته یې پوهنتون ته هم لاره وموندله او د وخت له نامتو لیکوالو سره اشنا شو. د ژوند دې ټولو تجربو له نوموړي یو ښه لیکوال جوړ کړ او د "په ژورو کې، مور، یواځیتوب، توپان د مرغه، زما پوهنځی، د مني یوه شپه، د لمر بچیان، اعتراف، زما خاطرې او ..." په څېر مشهور آثار تخلیق کړل.

له بې سارو ادبي پنځونو وروسته "ګورکي" په "۱۹۳۵م" کال کې د "۶۸" کلونو په عمر ومړ. البته ویل کېږي، چې مخالفینو یې زهر ورکړي وو.

### ویناوې

- مور او پلار یواځیني خلک دي، چې د خپلو خدمتونو په مقابل کې د منني تمه نه لري.
- یو ښه معالم، په ورته وخت کې یو ښه شاګرد هم وي.
- کله چې له خپلې دندې سره مینه ولرې، کار ساعت تېرې (تفریح) وي.
- د دولت له ګټلو څخه یې ساتل ګران دي.
- ډېر کله چې انسانان په شخړه کې د حقیقت د کشف پر ځای د هغو پټولو لپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غازي امان الله خان کارنامې

**څېړنه ـ رياض مقامزی**

**يادونه: دا د يوې څېړنيزې مقالې اساسي برخه ده، چې بشپړه مقاله يې تېر کال (۱۳۹۹ل) د ولسمشرۍ ماڼۍ لخوا د مقالو په يوه معتبره ټولګه کې هم چاپ شوې/خپره شوې ده.**

**پېژندنه**

غازي امان الله د امير حبيب الله خان دويم زوی دی. نوموړی په (۱۳۰۹ل.ل – ۱۸۹۱ز) کال دې نړۍ ته سترګې پرانيستې. د نوموړي په روزنه کې د هغه مور لوی لاس درلود. مور يې د شاغاسي خوشدل خان لور او د بارکزيو په لوی ټبر پورې تړلې وه. (۳: ۲)

لومړنۍ زده کړې يې په شاهي دربار کې ترسره کړې او بيا يې نورې زده کړې په حربيه مدرسه (حربيه ښوونځي) کې ترسره کړي. په پوځي زده کړو کې يې ځانګړی ښوونکی هم درلود چې محمود سامي پاشاه نومېده. امان الله خان د خپل پلار په دربار کې زيات محبوبيت درلود.

ښاغلی محمد آصف شينواری په خپله يوه مقاله کې د نوموړي د زده کړو په اړه دا کرښې کښلي دي: ((کله چې امان الله خان خپل ښي او کيڼ لاس وپېژاند پر دې وپوهېد، چې پلار يې پر افغانستان باندې د انګرېزانو په ګټه حکمراني کوي. امان الله خان په همداسې يوه روحيه ښوونځي ته ولېږل شو او ددې تر څنګ يې د وخت له مشهورو او پېژندل شويو ښوونکيو او استادانو نه زده کړې تر لاسه کړې او ملي بدبختيو ته په ځيرنه د وطن د پرمختګ او سوکالۍ هيلې ورسره پيدا شوې.)) (۳: ۲، ۳)

امير حبيب الله خان د (۱۹۱۹م) کال د فبرورۍ په ۲۱مه نېټه د لغمان په کله ګوش کې ووژل شو. يو روايت دا دی، چې دغه وژنه سياسي او په نهايت کې د مشروطه غوښتونکو د يوې پټې کړۍ کار و. (٦: ۱۵)

افغان تاريخپوه مير غلام محمد غبار په ((افغانستان در مسير تاريخ)) کې ليکي: ((د فبرورۍ پر ۲۴مه، د کابل خلک او د پلازمينې لښکر د مرادخانې ميدان کې راغونډ شوي وو. امير امان الله خان په داسې حال کې د خلکو ګڼې ګوڼې ته ننوت، چې توره يې پر ډډې راځړېدله. همدلته يې مشهوره او تاريخي وينا وکړه. هغه د افغانستان بهرنۍ خپلواکي او په هېواد کې دننه د فردي آزادۍ اعلان وکړ. ((

پاچا امان الله خان د خپلې اوږدې وينا په پای کې برتانوي نماينده حافظ سيف الله ته مخ واړوه او په نرمه يې ورته وويل: ((اوو سفيره! ته پوه شوې چې ما څه وويل؟)) هغه ځواب ورکړ: ((هو، زه پوه شوم.)) (٦: ۱۹)

کله چې امير امان الله خان په (۲۷) کلنۍ کې واک ته ورسېد، د خپل عصري مفکورې له مخې يې غوښتل چې افغانستان د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسوي. غوښتل يې افغانان د نړۍ له پرمختګه خبر او له نړېوالو سره سيال کړي. نوموړي ويل: ((زه غواړم چې په يوه بشپړ خپلواک هېواد کې خپلواک مشر وم.)) (۴: ۱۴)

غازي په (۱۹۲۹م) کال له پاچاهۍ ګوښه او خپل ورور عنايت الله خان يې خپل ځايناستی وټاکه، خو دا داسې وخت و، چې حبيب الله کلکاني ارګ محاصره کړی و. نوموړي د خپل ژوند وروستي کلونه په ايټاليا کې له خپلو شپږو اولادونو او مېرمنې سره په ډېره بې وسۍ کې تېر کړ. په (۱۹٦۰ز) کال کې امان الله خان ته د ځيګر ناروغي پيدا شوه. د درملنې په موخه سويزرلينډ ته ولېږدول شو. بالآخره د (۱۹٦۰ز) کال د اپرېل په (۲۵) نېټه له دې فاني نړۍ رحلت وکړ. (۳: ۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لاسته راوړنې**

کله چې په افغانستان کې د پرمختګ، تغیر او ترقۍ خبرې کېږي، ورسره سم د غازي امان الله خان نوم هم اخیستل کېږي. غازي چې کله واک ته ورسېد پوه شو، چې له یووالي او ملت جوړونې پرته نه شي کولی خپله آزادي وساتي. نو په ډېره ځیرکتیا یې خلک یووالي ته راوبلل. ویې ویل: ((تاسې تاجک، اوزبک او پښتانه نه یئ، تاسې ټول افغانان یئ. موږ بېل – بېل ټبرونه یو خو یو ملت یو.)) (۴: ۱٦)

که پورتنۍ وینا ته ځیر شو، نو تر ټولو غوره کارنامه ده او داسې ویناوې د قوي سیاستپ نماینده ګي کوي. د اماني دورې لاسته راوړنې خورا ډېرې دي نو زه یې یوازې په درېیو برخو (معارف، مطبوعات، اقتصاد او د ښځو ټولنیز موقف) بحث کوم.

**۱. معارف**

که څه هم د افغانستان د عصري پوهنې بنسټ په کابل کې د حبیبیې ښوونځي په پرانستلو سره ایښودل شوی و. خو امان الله خان عصري پوهنه ښه پراخه کړه. پوهنه د پخوا په څېر وړیا او لومړنۍ زده د اساسي قانون له مخې جبري کړه. په دې برخه کې خورا ډېرې پیسې لګېدلې او د پوهنې بودیجه د حربې وزارت او دربار نه وروسته په درېیمه درجه کې وه. (٦: ۵۰)

په (۱۹۲۲ز) کال کې د لومړي ځل لپاره د معارف وزارت تأسیس شو او سردار محمد سلیمان خان د ښوونې وزارت وزیر وټاکل شو. (۷: ۲۷)

ځینې ځوانان د لوړو زده کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته ولېږل شول او په کابل کې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي او پرمختګ لپاره کتابخانه جوړه شوه. (۷: ۵)

په کابل کې د پنځو یا شپږو تنو له لورې د (مقدس ملي) په نوم کتابخانه جوړه شوه. یادو کسانو له خپلو کورونو کتابونه ټول کړل او کتابتون یې جوړ کړ. د رخصتیو په ورځو کې به خلک د مطالعې لپاره همدې کتابتون ته ورتلل او مطالعه به یې کوله. (۷: ۲۸)

ځوان پاچا د (۱۹۲۲ز) او (۱۹۲۴ز) کلونو ترمنځ یوازې په کابل کې ۲۲ ښوونځي جوړ کړل. او د قانون له مخې لومړنۍ زده کړې په هر افغان (ښځه او نر) جبري و. (۳: ۱۳۴)

تر (۱۹۲۷ز) کال د ابتدایي زده کړو د زده کوونکو شمېر (۵۱۰۰۰) تنو ته لوړ شو. او په لیسو او مسلکي مرکزونو کې (۳۰۰۰) تنو زده کړې کولې. له (۱۹۲۳ز) کال نه تر (۱۹۲۷ز) پورې (۱۳۳) عنوانه تدریسي کتابونه طبع شول. او د معارف مطبعه هم په همدې کلونو کې تأسیس شوه. (۱ : ۱۷)

په لنډه توګه ویلی شو، چې معارف په اماني دوره کې خورا زیات پرمختګ وکړ. له زده کړو سره د شاه او ملکې دومره مینه وه چې آن د سواد د زده کړې په کورسونو کې به دوی خپله تدریس کاوه. (۳: ۱۳۸)

**۲. اقتصاد**

په اقتصادي برخه کې د غازي کړنې او اقدامات هم د هېرولو نه دي. په (۱۹۲۰ز) کال کې یې د لومړي ځل لپاره جنسي مالیات او تادیات له منځه یوړل او د جنس پر ځای یې نقدي مالیه وضعه کړه. همدارنګه یې کاغذي پیسې هم چاپ کړې. (۳: ۱۸۵) د اصلاحاتو په لړ کې د هېواد د عایداتو کچه له ۸۰ میلیونو څخه ۱۸۰ میلیونو ته پورته شو. د عایداتو دغه زیاتوالی په دې ډول و. د صکوکو له حصول څخه ۱۰ میلیونه، د ځمکو له مالیاتو څخه ۸۰ میلیونه، له ګمرکي مالیاتو څخه ۴۰ میلیونه، د څارویو له مالیاتو څخه ۲۵ میلیونه او متفرقه عوایدو څخه ۲۵ میلیونه روپۍ ترلاسه شوې وې. (۳: ۱۸٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په (۱۹۲۲ز) کال کې د صنایعو د تشویق قانون وضعه شو، چې له مخې یې اغېزناک گامونه پورته شول. په هېواد کې د ټلیفون د مزو غځول ترسره شول، د موټرو د ترمیم، پرزه جوړولو، صابون، عطریاتو، تار جوړولو، رخت اوبدلو، ترکاڼي او د یخ فابریکې جوړې شوې. په ننگرهار، پغمان او کابل کې د برېښنا شبکو د جوړولو کار پیل شو، چې ورسره د گوگردو، څرمنو، باروتو او سمنټ جوړولو فابریکو ته برېښنا ورسول شوه. له پنبې څخه د غوړو ایستلو ماشینونه په هرات، کندهار او مزار کې جوړ شول. (۳: ۱۸۷)

د شاه په دوره کې د کرهنې د پرمختگ لپاره هم قوانین تر بحث لاندې ونیول شول. په لومړي سر کې د دهقانانو څخه د مامورینو د معاش اجرا کول د غلې په ذریعه له منځه یووړ. د ملکانو او پیرانو قلنگونه چې له بزگرانو څخه یې په زور اخیستل، ختم کړل. د کرهنې د ودې لپاره یې د اوبو بندونه جوړل کړل. د کنړ ولایت د اسمار، پکتیا او نورستان د ځنگلونو د چارو د تنظیم په خاطر ځانگړي تدابیر ونیول شول. د حېواناتو د روزنې لپاره یې هم اقدامات ترسره کړل. تر څو د هېواد په نا خالصو محصولاتو زیاتوالی راشي. (۳: ۱۸۸)

**۳. مطبوعات**

د غازي امان الله خان نږدې ملگري شاعران، لیکوال، ژرنالیستان او یا فرهنگیان وو. نو ځکه خو په اماني دوره کې مطبوعاتو ځانگړې پرمختگ وکړ. د خپلواکۍ په لومړي کال کې د مطبوعاتو لومړنی قانون په هېواد کې پلی شو. چې له مخې یې مطبوعاتو ته ځانگړې آزادي ور په برخه شوه. د همدې نظامنامې په اساس زموږ هېواد گڼ شمېر دولتي او خپلواکو رسنیو څښتن شو. (۳: ۳٦)

غازي وایي: ((د آزادۍ یوه خوږه ثمره دا ده، چې تاسې عالمان، فاضلان، مشایخ، وکیلان او د ملت عزتمند او مخور زما په حضور کې حاضرېږئ او خپل اندونه او فکرونه په آزاده توگه بیانولی شئ.)) (۲: ۱٦)

له پورتنۍ وینا څخه معلومېږي چې د خپلواکۍ اتل غازي امان الله خان د بیان او مطبوعاتو آزادۍ ته په بشپړه توگه ژمن و.

انیس لومړنۍ آزاده جریده وه، چې د غلام محی الدین انیس په هلو ځلو او مدیریت په (۱۳۰٦ل) کال د ثور د میاشتې په پنځلسمه نېټه په کابل کې چاپ شوه. (۳: ۳۷)

افغان ورځپاڼه د (۱۲۹۹ل) کال د سرطان به ۱۴ نېټه په کابل کې له پیل څخه د ورځپاڼې په ډول د محمد خان کندهاري او ورپسې د پاینده محمد خان فرحت په مدیریت خپره شوه. (۳: ۳۹)

همدارنگه ((نسیم سحر))، ((نوروز)) او ((پشتون ژغ)) هغه نور درې پنځلس ورځنۍ جریدې او مجلې وې، چې په دې دوره کې خپرېدې. (۳: ۳۹)

د راډیو ودانۍ د هغه وخت په یو ډېر ښکلي ځای کې موقعیت درلود. چې ((کوټۍ لندن)) ورته ویل کېده. په هغه وخت کې د لومړي ځل لپاره پخپله د امان الله خان په هدایت لومړی دېرش او بیا زر پایې وړې بطرۍ لرونکي راډیوگانې هېواد ته راوړل شوې او په خلکو ووېشل شول. (۵ : ۳) امان افغان، ارشاد النسوان، افغان، حقیقت، ابلاغ او ثروت هغه جریدې او مجلې وې چې په کابل کې خپرېدې. ددې ترڅنگ اتحاد مشرقي، ستاره افغان، غازي، اتفاق اسلام، اتحاد اسلام (بیدار)، طلوع افغان او اصلاح هغه جریدې او او اونیزې وې چې په ولایتو کې خپرېدل. تر څنگ یې ځینې ځانگړي تخصصي خپرونې هم وې. چې معرف افغان، آئینه عرفان، مکتب او ځینې نور د یادولو وړ دي. (۳: ۴۰- ۴۷) باید ووایم، چې د اماني دورې د پرمختگونه په دې جزوي برخې بحث داسې مثال لري لکه له سمندره د یوې څاڅکې را اخیستل. په دې هیله چې زموږ ځوان لیکوال او څېړونکي دې برخې ته ځانگړې پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امریکا ولسمشر "جان ایف کَنیډي" څنګه ووژل شو؟

د امریکا په تاریخ کې یوه لویه معما چې تر اوسه یې په اړه مختلفې نظریې ورکول کېږي، ددې هېواد د ولسمشر د ترور پېښه ده. ددې واقعې په اړه مختلفې انګېرنې موجودې دي؛ خو موږ هڅه کړې ده، چې په دې لیکنه کې ددې ورځې بشپړ جزئیات له موثقو سرچینو څخه په اخیستنې چمتو کړو. تاسو به پوه شئ، چې "کنیډي" څنګه، کله او چرته ووژل شو.

### کَنیډي څوک دی؟

کنیډي د امریکا په تاریخ کې لومړنی ولمسشر دی، چې د "تر ټولو محبوب ولسمشر" لقب یې ګټلی دی. د نوموړي بشپړ نوم "جان فیټزجرالډ کَنیډي ـ John Fitzgerald Kennedy" دی. هغه د امریکا پنځه دېرشم "۳۵" ولسمشر و. له څو کاله ولسمشرۍ وروسته د یوې پېښې په ترڅ کې ووژل شو. د یادونې وړ ده، چې د وژل کېدو په وخت کې "۴۶" کلن و.

### جان ایف کَنیډي څنګه ووژل شول؟

که څه هم ولسمشر کَنیډي ډېری مخالفین لرل او ټولو هڅه کوله، چې نوموړی په یو نه یو ډول بدنام کړي. ځینو یې کمونیست باله او ځینو نورو پرې د مسلمانېدو ټاپې لګولې؛ خو د وژنې په ورځ یې نږدې ټوله امریکا د درنې چوپتیا حالت ته لاړه.

نوموړی په هغه ورځ "۱۹۶۳م، نومبر، ۲۲مه" له خپلې مېرمنې "ژاکلین" سره په تګیزاس کې و. کَنیډي په موټر کې د زرګونو خلکو ترمنځ تېرېده، چې ناڅاپه د سر په وروستۍ برخه یې مرمۍ ولګېده او څو دقیقې وروسته ومړ.

د نوموړي د وژنې په تور "لي هاروي اسوالډ ـ Lee Harvey Oswald" ونیول شو. دوه ورځې وروسته، چې له نوموړي سره پولیس هم وو، د "جک روبي ـ Jack Ruby" لخوا هغه (قاتل) هم ووژل شو او په دې توګه د امریکا د تاریخ یوه لویه معما ناحله پاتې شوه.

په تېره نیمه پېړۍ کې د "کَنیډي" د وژنې په تړاو بېلابېلې نظریې ورکړل شوي دي، چې اکثریتو کې دا پېښه یوه لویه توطیه بلل شوې ده؛ خو ددې پېښې د څېړنې د رسمي کمېټې په "۸۸۹" مخیز راپور کې داسې کوم څه نه دي ویل شوي او هغوی ویلي، چې دا کار "لي هاروي اسوالډ" په یواځې ځان کړی دی. په هر حال؛ دا پېښه تر اوسه هم اکثرو امریکایانو ته یوه معما ده. راځئ، چې په دې برخه کې ددې وژنې دقیقه په دقیقه حال وڅارو.

### د ورځې ۱۱:۳۰ یوولس نیمې بجې

هغه الوتکه چې ولسمشر کَنیډي او مېرمنه یې ژاکلین کَنیډي پکې سپاره وو د د "دالاس" په "لاوفیلډ" هوايي ډګر کې ښکته کېږي او ګڼ شمېر خلک یې استقبال کوي؛ مګر د الوتکې له کېناستو درې ساعته وړاندې قاتل له یو دوربین لرونکي وسلې سره ـ چې په کاغذونو او اخبارونو کې یې پېچلې و ـ په یوه ودانۍ کې ځای پر ځای کېږي. همکار یې ترې پوښتي، چې په لاس کې دې څه دي؟ هغه ځواب ورکوي: "څه نه دي؛ پرده ده."

### د ورځې ۱۱:۴۵

ولسمشر او مېرمنه یې چې د تیګزاس ایالت ښاروال "جان کانلي" او مېرمنه یې "نیلي" هم ملتیا کوي، د سرخلاصو موټرونو په یوه کاروان کې د زرګونو خلکو ترمنځ تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راپورونو له مخې د مني په هغه لمرینه ورځ کې شاوخوا "۱۴۰" زره خلکو له سهاره قطارونه جوړ کړي وو تر څو خپل ولسمشر ته لاسونه وخوروي او احترام یې وکړي.

**د غرمې ۱۲:۰۰**

د غرمې دولس بجې وې، چې د ولسمشر کاروان د "دالاس" ښار مرکز ته رسېږي. څو دقیقې وروسته ښاروال "کانلي" ولسمشر ته مخ اړوي او ورته وایي "تور نه شئ ویلای، چې دالاس پر تاسو مئین نه دی." (د دالاس خلک له تاسو سره مینه نه لري.)

**د ماسپښین "۱۲:۳۰"**

په داسې حال کې چې د ولسمشر موټریز کاروان په دالاس ښار کې د ډیلي پلازا احاطې ته ور داخل شوی وو او ولسمشر خپلو هېوادوالو ته لاس ښوراوه، د لومړنۍ مرمۍ څړیکه یې په خپل "ستون فقرات" کې حس کړه. په څو شېبو کې دویمه مرمۍ د ولسمشر د سر په کوپړۍ لگېږي. درېیمه گولۍ د ښاروال کانلي پر بدن لگېږي؛ خو نوموړی له دې پېښې روغ وځي. شاید په دې شېبه کې به یې فکر کړی وي، چې د مینې او نفرت ترمنځ واټن څومره لنډ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سټاین بیک لنډ ژوندلیک

د امریکا د هغو لیکوالو له ډلې چې د نوبل جایزه یې ګټلې ده، یو هم "سټاین بیک" دی. که څه هم امریکایي کره کتونکي خورا سخت پرنسپونه او اصول لري؛ خو نوموړی ددوی د سختو پرنسپونو له دایرې وتلی دی او د امریکایي لیکوالو د پنځو لویو ستورو په منځ کې یې ځای خپل کړی دی. موږ په دې لیکنه کې د نوموړي پر ژوند او فن لنډې خبرې لرو.

**سټاین بیک څوک دی؟**

ددې ستر امریکایي لیکوال بشپړ نوم جان سټاین بیک "John Steinbeck" دی. بیک په "۱۹۰۲ز" کال کې د امریکا، کلیفورنیا ایالت په سالیناس سیمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. دا چې کورنۍ یې بېوزله وه؛ نو بیک په ځوانۍ کې شاقه کارونه هم کړي دي. خو بیا هم وتوانېد چې پوهنتون ولولي. سرایواني، بزګري، خبریالي او ځینې نور کارونه دي، چې نوموړي په ځوانۍ کې ترسره کول. خو دې سختو کارونو او ژوند نوموړی هېڅکله ناهیلی نه کړ، تر دې چې "۱۷" جایزې او مډالونه یې وګټلې. همدارنګه په ۶۰ کلنۍ کې یې د نوبل ارزښتناکه جایزه هم ترلاسه کړه.

د ادب ډګر ته هم مستقیما نه دی راغلی. لومړی د ژورنالېزم او بیا د ادب دایرې ته داخل شو. لومړی یې څو کیسې او داستانونه خپاره کړي وو؛ خو شهرت یې هله پیدا کړ، کله چې یې د "تورتیلافلېټ ښار مېنه" رومان خپور کړ. دا اثر یې دومره مشهور شو، چې یو فلم پرې جوړ او خپور شو. خو خبره په دې ځای نه ختمېږي، له دې وروسته دا فلم د غوره فلمونو په ډله کې هم راغی. همداسې له نورو داستانونو یې هم فلمونه جوړ شول. د مشهورو آثارو په ډله کې یې د مرغلره، ډوبه شوې سپوږمۍ، شکمنه جګړه، د غوسې وږې، په زړه پورې پنجشنبه او ... ځینې نور د یادولو وړ دي.

سټاین بیک له ګڼو ګټورو ادبي فعالیتونو او لاسته راوړنو وروسته په "۱۹۶۸ز" کال کې ومړ.

**د سټاین بیک غوره ویناوې**

- د خپل کوښښ او تلاش مریدان شئ، نه د امید او هیلو.
- جګړه د انسان د ناکامۍ نښه ده.
- انسان یوازینی ژوی دی، چې په خپله ځان ته دام ږدي.
- زړښت په کال نه دی، په حال دی.
- کله چې له ستونزو سره لاس او ګرېوان وې او یا اړ وې، نو د مرستې لپاره بېوزلو خلکو ته ورځه. یوازې دوی دي چې تاسره کومک وکړي.
- هېڅوک هم نصیحت نه خوښوي، یوازې همکاري غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بنجامین لنډ ژوندلیک

د بعضې هېوادونو پر پیسو د ځینو مخورو شخصیتونو انځورونه وي او ددې معنا دا ده، چې یاد کس خپل هېواد، ولس، نړۍ او یا بشریت ته لوی خدمتونه کړي دي.

یو له دې کسانو څخه "بنجامین" دی، چې د امریکایي ډالرو پر سلګون لوټونو (نوټونو) یې انځور چاپ شوی دی. تاسو به په دې لیکنه کې نوموړی په بشپړ ډول وپېژنئ.

**د فرانکلین لنډ ژوندلیک**

د امریکا ددې پیاوړي لیکوال، سیاست مدار، طبیعت پېژندونکي او مخترع بشپړ نوم "بنجامین فرانکلین" دی. نوموړی د "۱۷۰۶ز" کال د جنورۍ په اوولسمه نېټه په بوستون سیمه کې وزېږېد.

بنجامین د امریکا متحدا ایالاتو له بنسټ ایښودونکو څخه شمېرل کېږي. د نوموړي پلار "فرانکلین نومېده. یو مخترع انسان و، چې پخپل وخت کې یې صابون او شمع تولید/کشف کړي وو. بنجامین د خپل پلار لسم زوی او پنځلسم اولاد و. نوموړي له ماشومتوبه د علمي، مذهبي او ادبي کتابونه له لوستلو سره لېوالتیا لرله او د مطالعې له خزانې یې ډېر څه ترلاسه کړي وو.

بنجامین یو څه موده د خپل ناسکه ورور "جیمز فرانکلین" په چاپخونه کې کار وکړ او د لومړي ځل لپاره یې په "۱۷۲۲" کال کې "۱۴" کوچني او طنزیه مقالې په ورځپانه کې خپرې کړې؛ خو په همدې کال کې د یوې جنجالي مقالې له کبله ورځپانه له خپرېدو منع شوه او جیمز چې د ورځپاڼې مسول پر یوه میاشت زندان محکوم شو. په دې توګه د ورځپاڼې مسولیت بنجامین ته ور تر غاړې ووت.

نوموړي د چاپ په برخه کې خورا ډېر کار وکړ او خورا ډېر کتابونه یې خپاره کړل. له همدې امله یې د کتابت او مطبوعاتو په برخه کې ښه نوم ترلاسه کړ.

هغه د خپل ژوند په اوږدو کې ټولنیزو او د خیر ښېګڼې عمومي فعالیتونو ته هم مخه کړه. د ښارونو پاکوالی، روښنایي، د مکتبونو تشکیلاتي نظام، کتابخانو او نورو برخو کې د نوښتونو او فعالیتونو له کبله ډېر شهرت وموند.

بنجامین فرانکلین په "۱۷۴۸ز" کال کې خپله انتشاراتي موسسه ترک کړه او په "۱۷۵۰ز" کې د پنسلوانیا د پارلمان غړی شو. د یو فعال ادبي، سیاسي او مخترع شخصیت په توګه یې په بېلابېلو برخو کې تر ګڼو لاسته راوړنو وروسته په "۱۷۹۰ز" کال کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لانګ فيلو وپېژنئ!

د نړۍ او په ځانګړې توګه د نوموتو امريکايي شاعرانو/ليکوالو په قطار کې لانګ فيلو هم د يوه خاص مقام/ځای خاوند دی. تاسو به په دې ليکنه کې د نوموړي په اړه مختصر خو مهم معلومات ولولئ.

**د لانګ فيلو لنډ ژوندليک**

د امريکا ددې منلي شاعر/ليکوال بشپړ نوم "هينري واډزورس لانګفيلو ـ Henry Wadsworth Longfellow" دی. نوموړي په "۱۸۰۷" زيږديز کال، د مين ايالت په پورټلينډ سيمه کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستلې. دا چې لانګ فيلو له يوې بډايې کورنۍ سره تړاو درلود، نو منظمې زدکړې يې وکړې. په "بوډن" کالج کې تر زده کړو وروسته اروپا ته د زده کړو او سياحت لپاره لاړ. هلته له درې کلونو (۱۸۲۶ ـ ۱۸۲۹ز) تېرولو وروسته بېرته خپل هېواد ته راغی او په "بوډن" کالج کې يې د استادۍ دنده واخيسته.

ده د استادۍ پر مهال واده هم وکړ او له پنځه کاله تدريس وروسته بېرته اروپا ته ولاړ. په ورته وخت کې يې مېرمنه په امريکا کې مړه شوه. فيلو بېرته امريکا ته راغی او په هارډوارډ پوهنتون کې تدريس شروع کړ.

خپلو محصلينو ته يې د اروپايي شاعرۍ په نوم کتاب تألیف کړ، چې په اروپا کې يې هم لوستونکي لرل. که څه هم نوموړي خورې ورې مقالې، خپل خاطرات، ډرامې او نور آثار خپاره کړي وو؛ خو اصلاً د نوموړي شاعرۍ ډېر مينه وال پيدا کړل او فيلو يې د شهرت تر پوړيو ورساوه. لومړنۍ شعري ټولګه يې "د شپې غږونه" نومېږي او ددې ترڅنګ ايوانجلين، د لارې د غاړې ميلمستون او د هاياواثا ترانې يې هم د شعري ټولګو نمونه دي. بايد ووايو، چې هېڅ بل امريکايي شاعر پخپل ژوند کې د لانګفيلو په اندازې نه دی نازول/ستايل شوی.

له ګڼو ادبي او هنري لاسته راوړنو وروسته نوموړی په "۱۸۸۲ز" کال کې د پنځه اويا کلونو په عمر ومړ.

د شعر يوه بېلګه

د "لانګ فيلو" پر ژوند خو به تر يره بريده پوه شوي يئ. په دې برخه کې به د نوموړي يو شعر هم ولولو، چې د "ګټه او تاوان" تر عنوان لاندې نوموتي ليکوال/شاعر عبدالباري جهاني ژباړلی دی.

چې يوازې مې يو ځان يو مې ګرېوان وي
راسره فکر د ګټې او تاوان وي
وايم څه شی مې بايللي، څه ګټلي
لړ به پاتې ځای د فخر په ميدان وي
زه پوهېږم څومره ورځې مې کړې تېرې
په بې ځايه پاڅېدلو ګرځېدلو
لکه غشی چې په ښه نيت وي وار شوی
خطا شوی پر هدف له لګېدلو
مګر څوک به دومره زړه وکړي چې ټول کړي
د ژوندون د لارې ګټې تاوانونه
څوک خبر دي، برې کوم دی، ماتې کومه
تل په جزر پسې راشي لوی موجونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د گویته لنډ ژوندلیک

د نړۍ د مشهور څېرو په لړ کې به نن الماني لیکوال او فیلسوف گویته وپېژنئ. نوموړي د ښه استعداد ترڅنگ جذابه څېره هم لرله. ویل کېږي، آن یو ځل ځینو کسانو د خپلو زړو عقیدو پر اساس پرې د خدایگوتې گومان کړی و. په هر حال؛ په دې لیکنه کې به د نوموړي پر ژوند، فن، ویناوو او شعر یوه شئ.

**پېژندنه**

د المان ددې پیاوړي فلسفي شاعر، لیکوال، څېړونکي او انځورگر بشپړ نوم "Johann Wolfgang von Goethe" دی؛ خو اکثریت خلک یې د گویته/گویټه په نوم پېژني. دی د "۱۷۴۹ز" کال د اگسټ پر اته ویشتمه نېټه د آلمان (جرمني) په فرانکفورت ښار کې زېږېدلی دی. د نوموړي کورنۍ په طبقاتي لحاظ اشرافه وه او پلار یې په شاهي دربار کې وظیفه ترسره کوله.

دا چې د گویټه کورنۍ شتمنه وه؛ نو د ښوونځي له دورې وروسته یې د حقوقو زدکړه پیل کړه. په دې وخت کې یې عمر شپاړلس کاله و. د زده کړو په جریان کې یې له فلسفې او ادبیاتو سره مینه پیدا شوه؛ خو د حقوقو زدکړه یې بشپړه کړه. له حقوقو سره ـ سره یې د معمارۍ او نقاشۍ په برخو کې هم کار وکړ. د گویټه طبیعت داسې و، چې په یوه دنده کې به تنگېده؛ نو له همدې امله یې په سوداگرۍ، ښوونه روزنه، معمارۍ، انځورگرۍ، طب، سوداگرۍ او نورو بېلابېلو برخونو کې فعالیتونه وکړل؛ مگر په وروستیو کې وتوانېد چې ادبیاتو او انځورگرۍ ته وقف شي.

د نوموړي په اړه بله جالبه دا ده، چې په ډېرو ژبو پوهېده. پر الماني، لاتیني، انگلېسي، یوناني او فرانسوي ژبو برلاسی و. همدارنگه په قرآنکریم یې هم څېړنې کړې دي او د اسلام او حضرت محمد "ص" په اړه یې ښه نظر درلود.

د ځینو مشهورو آثارو نومونه یې عبارت دي له: شرقي دېوان، د مړو نڅا، فاوسټ، د یوې پاکې اروا اعتراف، د ایټالیا سفرنامه او ...

د نړۍ دا ستر لیکوال او شخصیت له گڼو لاسته راوړنو وروسته په "۱۸۳۲ز" کال کې د "۸۳" کالو په عمر ومړ.

ویناوې

- خبرې کول اړتیا ده؛ خو غوږ نیول هنر دی.
- خدایه! هنر څومره لوړ او ژوند څومره لنډ دی.
- په ځوانۍ کې موږ مشکلاتو پسې گرځو او په زړښت کې ستونزې موږ پسې گرځي.
- د انسان لومړنۍ دنده هڅه ده.
- د مینې په کار کې موږ ټول یو شان کم عقل یو.
- هغه شی، چې ډېره رڼا لري، ژور سیوری هم لري.
- خپل راتلونکي ته تصمیم ونیسه، هڅه ورته وکړه او هیله ورته لره؛ خو د راتلونکي لپاره ژوند مه کوه.
- ما پخپل زېږېدو کې رول نه درلود او نه به یې په مرگ کې ولرم.
- زما صلاحیت فقط په ژوند کې دی.

**د شعر یوه بېلگه**

له څه پیدا شولو موږ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مينې

څه ډول رنګ بايلو؟

بې مينې

څه شی مو په بره بيايي؟

مينه

مينه په څه پيدا کېږي؟

په مينه

زموږ د اوښکو سبب څه وي؟

مينه

په کوم چلند له انسانان يادېږو؟

په مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د برودسکي لنډ ژوندليک

که څه هم د نړېوالو ادبياتو اسمان ډېر لوی دی؛ مگر ډېر کم خلک پر دې توانېږي، چې د خپل زحمت ستوري پکې وځلوي. له دې لړو خلکو يو هم برودسکي دی. تاسو به په دې ليکنه کې د نوموړي په اړه مهم معلومات ولولئ.

### د بردوسکي لنډژوندليک

د روسيې ددې پياوړي شاعر/ليکوال بشپړ نوم ايوسيف برودسکي "Iosif Brodsky" دی، چې په "۱۹۴۰ز" کال کې زېږېدلی. دی له يوې لوستې جوړې پيدا شو، په دې معنا چې مور يې د محاسبه کوونکې په توگه دنده درلوده او پلار يې عکاس/خبريال و. ماشومتوب يې د غريبی، مايوسی او سختيو داستان لري. څکه دا وخت ددوی ښار "لېننگراد" د جگړې او کلابندی خاطرې لرلې؛ خو نوموړي هېڅکله زده کړو ته شا نه کړه او تل به يې د وخت د لويو ليکوالو کتابونه/شعرونه مطالعه کول. چې وروسته د يو لوی او عالي شاعر په توگه څرگند شو او ډېر شمېر اشعار يې وليکل. له گڼو ادبي هڅو وروسته په "۱۹۹۶ز" کال کې د امريکا متحده اياالاتو په نيويارک ښار کې ومړ.

### د برودسکي په اړه نور مهم ټکي

• په څلورويشت کلنی کې حکومت ونيوه او له هېواده يې تبعيد کړ. دا څکه چې نوموړي پخپلو اشعارو کې پر حکومت/چارواکو نيوکې کړې وې.

• په ماشومتوب کې يې د زده کړ ترڅنگ کار هم کاوه، ترڅو خپل مصارف پوره کړي.

• شاوخوا شپاړلس کلن و، چې شعر ډوله ليکنې يې وکړې.

• نوموړي د روسيې له مشهورې شاعرې "اناااخماتووا" څخه د شعر په اړه زدکړې وکړې.

• د پنځم روسي ليکوال په توگه يې په "۱۹۸۷ز" کال کې د نوبل جايزه ترلاسه کړه.

• د برودسکي مړينه د زړه د سکتې له امله وه.

• برودسکي د شاعری ترڅنگ ژباړې هم کولې.

• د نوموړي کورنی يهودی وه.

### د شعر بېلگه

په دې فکر کې يم
چې زما توري او کلمې به مړه شي
او وخت به په فاتحانه خندا
زما غمجن زحمت د مرگ تر پورې بدرگه کوي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اليوت لنډ ژوندليک

د نړيوالو ادبياتو په فهرست کې د "اليوت" نوم هم خورا روښانه دی. موږ پدې ليکنه کې تاسو د اليوت د پېژندنې، آثارو او ويناوو په اړه معلومات درکوو. د ليکنې تر پايه به يې په ښه شکل وپېژنئ.

### د اليوت لنډ ژوندليک

د نړيوالو او په ځانګړې توګه د انګليسي ادبياتو ددې نامتو کره کتونکي او ليکوال پوره نوم توماس اليوت "T.S Eliot" دی. نوموړی په "۱۸۸۸ز" کال کې د امريکا په متحده ايالاتو کې وزېږېد. کورنۍ يې شتمنه وه؛ پلار يې سوداګر او مور يې هم يوه لوستې مېرمن وه. اليوت د خپلو همعصرو نورو ليکوالو په پرته ډېرې زدکړې کړې وې. په سمبت اکاډمۍ، هارډوارډ، اکسفورډ او سوربن پوهنتونونو کې د دوکتورا تر کچې لوړې زدکړې وکړې. د خپل ژوند په اوږدو کې يې بېلابېل مهم ادبي آثارو وپنځول، تر دې چې په شپېته کلنۍ کې يې د ادبياتو د نوبل جايزه هم ترلاسه کړه. مهم آثار يې عبارت دي له: ويجاړ وطن، د يوې عيسوي ټولنې فکر، يو مجهول مدير، جنايت په کليسا کې، د پردېو خدايانو په لټه کې، د کره کتنې پولې او ځينې نور ... له بريالي ادبي ژوند وروسته په "۱۹۶۵ز" کال کې ومړ. د نوموړي له وصيت سره سم يې مړی وسوځول شو. د مرګ علت تر ډېره د سيګرټو څکول او د لندن ناپاکه هوا بلل کېږي.

### نور مهم معلومات

- پنځه ويشت کلن و، چې انګلستان ته ولاړ او د هماغه ځای تابعيت يې واخست. همدارنګه خپل مذهب يې هم بدل کړ.
- په انګليسي، فرانسوي، لاتيني او يوناني ژبو برلاسی و.
- يو ځل ورته هارډوارډ پوهنتون د استادۍ وړانديز وکړ؛ خو ويې نه مانه.
- شاعري او کره کتنه د نوموړي د ادبي هڅو مهم ډګرونه بلل کېږي.

### ويناوې

- د ژوند تېرېدلو دا را وښودل، چې انسان اکثرا هغه څيزونه له لاسه ورکوي، چې له شتون څخه يې ډاډمن وي.
- مينه غلې وي.
- تشويش او خفګان د نوښت محصول وي.
- هر څوک استعداد لري؛ خو په ډېرو حالاتو کې يوازې د څو دقيقو لپاره.
- انسان ډېره رښتيا نه شي زغملای.
- دنيا ته ټول رښتني راځي؛ خو ټول بېرته رښتيني نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بېرتولت لنډ ژوندلیک

د نړۍ او په ځانګړې توګه د الماني ادبیاتو په مشهورو څېرو کې د بېرتولت ځای خورا ځرګند او روښانه دی. تاسو به پدې لیکنه کې د نوموړي په اړه لا ډېر پوه شئ.

**ژوندلیک**

بشپړ نوم يې بېرتولت برشت "Bertolt Brecht" دی. د نړېوالو ادبیاتو او په ځانګړې توګه د آلماني لیکوالو په قطار کې خاص ځای لري. نوموړی یو ښه شاعر، د تیاتر کارپوه او ډرامه لیکونکی و. برشت په "۱۸۹۸ز" کال کې د آلمان (جرمني) په اوکسبورک ښار کې وزېږېد. پلار يې د کاغذ جوړولو د فابریکې مشر و؛ نو پر دې اساس د برشت د کورنۍ اقتصادي وضعیت ښه و او یوه شتمنه کورنۍ وه. دوی دوه وروڼه وو، چې پخپله برشت مشر و. نوموړي له لیکلو سره ځانګړې مینه درلوده او پدې برخه کې يې ښه استعداد هم درلود. آن د ښوونځي له دورې يې ادبي او غیر ادبي لیکنې کولې. تر ټولو مهم آثار يې سور چرګ، د ګالیله ژوند، "سړی، سړی دی"، د قفقاز تباشیري دایره، د کمون ورځې، د ښارونو په ځنګل کې، زه بېرتولت برشت، د ژاندراک محاکمه، په دریېمه امپراتورۍ کې ډار او مایوسي او ځینې نور دي. نوموړی له ګڼو ادبي هڅو او لاسته راوړنو وروسته په "۱۹۵۶ز" کال کې د زړه د حملې له کبله ومړ. البته په نوې ځوانۍ کې يې هم د زړه یوه حمله تېره کړې وه؛ خو ژوندی پاتې شوی و.

**نور مهم معلومات**

ـ دا چې نوموړي له ماشومتوبه د زړه ناروغي لرله؛ نو له شل کلنۍ يې د خپلې مقبرې د شناختې لپاره ډیزاینونه جوړول. ویل کېږي چې تر مړینې يې د شناختې پنځه ویشت ډیزاینونه جوړ کړي وو.

ـ په شپاړلس کلنۍ کې يې لومړنۍ ادبي مقاله په مجله کې خپره شوه.

ـ که څه هم په لومړیو کې د طب محصل و؛ خو په ادبیاتو کې د بې کچې استعداد او مینې له کبله يې طب په نیمه کې پرېښود.

ـ د خپلو لیکنو له برکته يې د DDR او ستالین جایزې هم ګټلې دي.

ـ په نړېواله جګړه کې د جنګ کرښې ته ولېږل شو تر څو له زخمیانو سره مرسته وکړي. هلته يې دا وینا مشهوره شوې وه: ”دا به ښه وي، چې پښې ټولې کړو؛ نه دا چې ورکې يې کړو.“

**ویناوې**

- هغه خوشحالي، چې د نورو په خفګان ترلاسه کېږي، ګناه ده.
- هغه وخت چې ویل کېدل به له خپلو ګاونډیانو سره محبت وکړئ، ګېډې مړې وې؛ زموږ په وخت کې حالت بدل دی.
- غلطي که په ناپوهۍ کې وشي، خطا ده؛ خو که په آګاهۍ کې وشي نو ګناه ده.
- کله چې بې عدالتي ډېره تکراره شي په ټولنه کې د عدالت په بڼه منل کېږي.
- هر ځای په باغ بدلېدای شي؛ خو که همت وي.
- له بانک څخه غلا د نوو غلو کار دی؛ تجربه لرونکي غله بانک جوړوي.
- هېڅ ازموینه بې درغلیو نه وي؛ پرته د خدای له ازموینې څخه.
- څوک چې د ظلم پر وړاندې نه یوځای کېږي. د ظالم په زندانونو کې به یو ځای شي.
- هر څوک کولای شي ګواښ او رټل وکړي؛ خو هرڅوک د رټلو او ګواښ حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اناتول فرانس لنډ ژوندلیک

د فرانسې او نړۍ ادبیاتو په مطالعه کې د اناتول فرانس نوم هم ډېر بارز دی. پدې لیکنه کې د نوموړي پر ژوند او فن لنډې خبرې شوي دي. ژوندلیک د فرانسې هېواد دا نوبل جایزه گټونکی لیکوال او متفکر (اناتول فرانس ـ Anatole France) د "۱۸۴۴ز" کال د اپرېل په شپاړلسمه نېټه د فرانسې په پلازمینه (پاریس) کې وزېږېد. د نوموړي پلار یو لوی کتابپلورنځی درلود، چې دې کار د فرانس په فکر او ژوند ډېر تاثیر کړی وی. دا ځکه چې د خپلو رسمي زدکړو ترڅنګ به یې له کتابپلورنځي هم ډېر کتابونه کور ته وړل او لوستل یې. ویل کېږي چې همدې پراخې مطالعې په هغه کې د لیکوالۍ استعداد وغوړاوه. په کم عمر کې یې د ادبیاتو، فلسفې او نورو برخو کتابونه په دقیقه توگه مطالعه کړل او د یو ځوان روشنفکر په توگه وپېژندل شو. د خپل بېساري استعداد له امله د خپل هېواد د علومو اکاډمۍ غړیتوب هم ترلاسه کړ، چې دا ډېر لوی ویاړ بلل کېږي. نوموړي دومره عالي نثر لیکه، چې اکثریت یې د فرانسوي ژبې د نیر پاچا بولي. تر ټولو مشهور آثار یې گناه او مینه، وړوکی بوډا، معاصر تاریخ، د اپیکور باغ، د سپینو تیږو پر مخ، د پرښتو سرکښي او ځینې نور دي. د یادونې وړ ده، چې ډېری آثار یې فلسفي، طنزیه او انتقادي بڼه لري. له گڼو ادبي هڅو، لاسته راوړنو او بریاوو وروسته د ۱۹۲۴ز کال د اکتوبر په دولسمه نېټه د اتیا کالو په عمر ومړ.

**ویناوې**

- که موږ په هر څه پوه شو، ژوند یو ساعت هم نه شو زغملای.
- علم له خطا څخه خلاص دی؛ خو عالمان همېشه په خطا کې وي.
- له ژوند سره د جگړې تر ټولو ښه وسله خوښي ده.
- که د انسان زړه ځوان وي، ټول موسمونه ورته پسرلي دي.
- خطا یو انساني کار دی؛ خو تکرارول یې حیواني دی.
- اخلاق طبعا په احساساتو پورې اړه لري.

د نوموړي دا لاندې لیکنه چې د "خطرناک" تر عنوان لاندې کښل شوې ده؛ استاد گل پاچا الفت ژباړلې ده.

"مور ته هغه کسان خطرناک ښکاري چې روحیه یې زموږ له روحیې نه مخالفه وي. هغه څوک چې زموږ خویونه پکې نشته، موږ ورته بد اخلاقه وایو. څوک چې زموږ په اشتباهاتو مبتلا نه وي، موږ ته شکاک معلومېږي او دا فکر نه کوو، چې هغوی به په نورو شبهاتو مبتلا وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د او.هینري لنډ ژوند لیک

کله چې په نړېوالو ادبیاتو کې د لنډو کیسو نوم اورو؛ نو ورسره سم د او.هینري نوم هم د یادولو وړ ګرځي. پدې لیکنه کې به تاسو د نوموړي د ژوند او فن په اړه لا ډېر معلومات ترلاسه کړئ.

**پېژندنه**

او.هنري "O. Henery" امریکایی لیکوال دی، چې په "۱۸٦۲ز" کال کې یې د امریکا په ګرینزپور په ښار کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستلې. ددې لیکوال خپل نوم "ویلیام سیدني" دی؛ خو په "او.هینري" مستعار نوم یې شهرت موندلای او په همدې نامه پېژندل کېږي. کله چې پنځلس کلن شو، زدکړې یې پرېښودې او د خپل پلار په درملتون کې یې کار پیل کړ؛ خو له مطالعې سره یې زیاته لېوالتیا لرله او تل به یې داستاني آثار لوستل. په شل کلنۍ کې تیګزاس ته ولاړ او هلته یې د کار ترڅنګ تر یوه برېده هسپانوي، فرانسوي او الماني ژبې هم زده کړې. د خپل ژوند په اوږدو کې ډېرې لوړې ژورې ولیدې. تر دې چې د ژوند وروستي کلونو یې فقط لیکوالۍ ته وقف کړل. پدې لړ کې یې ډېرې ښې ادبي پنځونې وکړې. مشهور آثار یې عبارت دي له: د ښار غږ، د لویدیځ زړه، څلور میلیونه، د برخلیک لارې او ځینې نور.... نوموړی لا ډېر زوړ نه و؛ خو نري رنځ ناروغۍ وځاپه او په "۱۹۱۰ز" کال کې د اته څلوېښت کلونو په عمر ومړ.

**نور مهم معلومات**

- د تکیزاس په سټیټ بانک کې یې د تحویلدار دنده لرله؛ بانک سقوط وکړ، نو په نوموړي تور پورې شو چې پیسې یې غلا کړې دي. له همدې کبله یې څه موده په زندان کې هم تېره کړه.
- د کیسو پای یې اکثرا داسې وي، چې لوستونکی یې تمه نه لري. یعنې پېښه پکې د تصور خلاف بدلون مومي.
- تقریبا شپږ سوه لنډې کیسې لري، چې اکثریتو یې نړېوال شهرت موندلای دی.
- ډېری لیکنې به یې د وخت په مشهورو ورځپاڼو "رولنګ سټون" او "ډیلي پوسټ" کې خپرېدې.
- په امریکایي لیکوالو کې "د لنډو کیسو استاد" لقب له ځان سره لري.

**وروستۍ پاڼه**

او.هینري "وروستۍ پاڼې" په نوم یوه ډېره په زړه پورې کیسه لري. د کیسې لنډیز داسې دی، چې یوې انځورګرې خپل زړه د یو ګل/بوټي په پاڼو پورې تړلی وي. نوموړې فکر کوي، کله چې د بوټي ټولې پاڼې ورژېږي، هغه به هم مړه شي. ربښتیا هم همداسې وي؛ د بوټي پاڼې چې څومره رژېږي انځورګره هومره کمزورې کېږي. هغه هره ورځ د خپلې کوټې له کړکۍ هماغه بوټي ته ګوري، چې پر دېوال ختلی دی. تر دې چې خبره وروستۍ پاڼې ته ورسېږي. ټوله شپه باد، باران او واوره وي؛ نجلۍ ډاډه وي، چې سهار به وروستۍ پاڼه هم رژېدلې وي او هغه به مري؛ خو د باور برعکس پاڼه پخپل ځای وي. په سبا یې هم همداسې کېږي. نجلۍ بېرته فکر کوي، چې شاید خدای یې د وژلو اراده و نه لري؛ نو بېرته یې حالت ښه کېږي او له مرګه وژغورل شي. خو وروسته معلومه شي، چې هغه پاڼه وخته رژېدلې وي. هلته پاڼه نه وي؛ بلکې د پاڼې یو انځور کښل شوی وي. د دوی د کور په لاندې پوړ کې یو بل سپین ږیری انځورګر ژوند کوي او هغه د نجلۍ پر یادې کیسې خبر وي. نو هماغه د باد او باران په شپه یې دا انځور کښلی وي. د هماغه یخې شپې له کبله ناروغ شي او ومري؛ خو پخپل هنر یې د یو بل کس ژوند ژغورلای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

که کوم نظر، وړاندیز او یا هم نیوکه لرئ په لاندې برېښنالیک خپل پیغام راولېږئ!

r.muqamzai@gmail.com

په درنښت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**